دَ رمضان په فضائلو او مسائلو باندے مشتمل یو عام فهم رساله

# د رمضان فضائل او مسائل



مرتب

مولانا مفتی محمّد ایاز درّانی صاحب حفظه الله



العلم پبلیکیشنز

# د رمضان فضائل او مسائل

ابومعاویه مولانا مفتی محمد ایاز حفظہ اللہ

العلم پبلیکیشنز محلہ جنگی پشاور
091-2590315

# فهرست مضامين


د روژې فضائل ومسائل ........................................ 10

د روژې اهميت : ........................................ 10

روژه کله فرض شوه ؟........................................ 11

د روژې فضيلت :........................................ 11

رمضان څه څيز دې ؟ ........................................ 11

د نيکو سيزن :........................................ 13

روژه دګناهونودمعافۍ ذريعه :........................................ 13

په رمضان کښې شيطانان قيد کولې شي :........................................ 14

د روژه دار دپاره دجنت مخصوص دروازه :........................................ 14

د روژه دار د خُلې بوئې الله تعالی ته دمشک نه زيات خوښ دې : ........................................ 14

د روژه ماتی د انتظام کوؤنکی ثواب : ........................................ 14

په روژه ماتولو باندې وعيد :........................................ 15

دا فضائل به څنګه ملاويږی : ........................................ 15

د روژې فلسفه او فائدې ........................................ 17

د رمضان مياشت او څو غلط فهمۍ ........................................ 19

د ګناهونونه ځان نه ساتل :........................................ 19

په نفل عبادت کولو کښې غلطيانې:........................................ 20

د روژې اهم بحثونه ........................................ 22

"صوم"(روژه):........................................ 22

د روژې قسمونه ........................................ 22

صوم دين : ........................................ 23

(٢)دحکم په اعتبار سره د روژو قسمونه : ........................................ 23

فرض :........................................ 23

واجب : ............................................................ 24
سنت : ............................................................ 24
مستحب : ............................................................ 24
نفل : ............................................................ 24
مکروهه تنزیهی :............................................................ 24
مکروه تحریمی : ............................................................ 25
د نیت سره متعلق مسائل : ............................................................ 25
د نصف النهار مطلب : ............................................................ 27
د روژې سنت ............................................................ 27
پشمنې خوړل : ............................................................ 27
په پشمنی کښې سترګې اونه غړیدې :............................................................ 28
په مشتبه (دشک په) وخت کښې پشمنې خوړل : ............................................................ 28
روژې ماتې کول : ............................................................ 28
روژه په کوم څیز سره ماتول پکار دی : ............................................................ 28
د روژې مفسدات............................................................ 29
قاعده :............................................................ 29
(۲) دقې صرف دوه صورتونه روژه ماتونکی دی :............................................................ 29
د روژې مکروهات............................................................ 31
(۱)بغیر دڅه عذر نه څه څیزڅکل یا چوپل : ............................................................ 31
(۲) قصدًا لاړې جمع کول او تیرول : ............................................................ 32
(۳) منجن یا پیسټ : ............................................................ 32
( ٤) بغیرد ضرورت نه غاښونه ویستل : ............................................................ 32
( ٥) غیبت وغیره : ............................................................ 32
په کومو وجوهو سره چه روژه نه نیول جائز دی- ............................................................ 33

( ۱) بیماری زیاتیدل یا دځان یره :........................................ 33
( ۲) په سفرکښې روژه :............................................ 34
( ۳)حاملې او پئ ورکونکی (ښځې)ته کله رخصت دې؟...................... 35
په دې څیزونو سره روژه نه ماتیږي-........................................ 36
( ۱) په هیره سره خوراک څکاک کول :........................................ 36
( ۲) خوشبو او لوګې :............................................ 36
( ۳) رانجه او تیل وغیره :............................................ 37
( ٤) مسواک :............................................ 37
( ٥) غرغړې وغیره :............................................ 37
(٦ ) انجکشن :............................................ 37
معدې ته څه څیز رسول بیا راویستل :............................................ 38
په کومو وجهو سره روژه ماتول جائز دی............................................ 39
د بیمارې زیاتیدو یا د ځان تللو یره :............................................ 39
روژه ماته شوه نو څه اوکړی :............................................ 39
د روژې کفاره :............................................ 39
په کومو صورتونو کښې چه کفاره واجب نه ده :............................................ 41
د سفر په وجه سره رمضان اکتیس یا اته ویشت ورځې شو ............................................ 41
روژه ئې اونیوله او بل ملک ته لاړو............................................ 42
د اولې ورځ سپوږمئ وړوکې لوې کیدل............................................ 42
دنکسیر وینه دننه تلل مفسد ده-............................................ 43
په رمضان کښې د حیض بندونکې دوائی استعمال ............................................ 43
د اذان د ختمیدو پورې خوراک کول............................................ 44
روژه او کوتاهیانې............................................ 45
( ۱) بغیر د عذر نه روژه نه نیول :............................................ 45

(۲ ) دغیر معذور فدیه ورکول: ........................................ 45
( ۳) بلوغ ته نزدې صحت مند ماشومان د روژې نه منع کول ........................ 46
( ٤) دمعذور په رخصت باندې عمل نه کول : ........................................ 46
( ٥) په پشمنی کښې جلتی یا تاخیر:................................................ 46
( ٦) په روژه ماتی کښې جلتی یا تاخیر : ........................................ 47
د روژه ماتی مکروهات : ........................................................ 48
د روژې په حالت کښې غیرمکروه کارونه :........................................ 49
د فدیې مسائل ................................................................ 49
په روژه باندې نه قدرت نه آئنده امید : ........................................ 49
مړی دفدیې وصیت کړې وی : .................................................. 50
د فدیې وصیت ئې نه وو کړې : .................................................. 50
د فدیې مقدار :................................................................ 50
د نیم صاع مقدار :.............................................................. 51
د مخکښنی کلنو فدیه کښې د ادا کولو د وخت قمیت معتبر دې: ............................ 51
فدیه د رمضان نه مخکښې ورکول جائز نه ده : ........................................ 51
د تراویحو مسائل .............................................................. 52
د تراویح معنٰی :................................................................ 52
د تراویح حکم : ................................................................ 52
د تراویح وخت : .............................................................. 52
په جمعَ سره د تراویحو حکم :.................................................. 53
د جمات نه بهر د تراویحو جمعَ : .............................................. 53
د مسافر،مریض او ښځې دپاره د تراویحو حکم : ................................ 53
د ښځو د تراویحو په جمعَ کښې شریکیدل یا په خپله د تراویحو جمعَ کول : .......... 54
په تراویحو کښې قعده هیره شو دریم او څلورم رکعت ئې یوځاې کړل :......... 55

په دويم رکعت ئې قعده اوکړه او سلام ئې اونه ګرځولو : ........................ 56
په يوې قعدې سره درې رکعته تراويح : ................................ 56
نابالغه سامع په اول صف کښې اودرول :................................ 56
د فرض کولو نه بغير دوترو په جمعَ کښې شريک کيدل صحيح نه دی : ........ 56
په رمضان کښې قضاء مونځ او يوه غلطه عقيده : .............................. 57
اته رکعته يا شل رکعته :................................................. 58
د شبينې حکم :........................................................ 58
تراويح کوم خلقو پسې کول جائز دی ........................................ 59
په تراويحواوختم قرآن باندې اُجرت : .................................... 59
ګيره کټ کونکی پسې تراويح جائز نه دی : .................................. 61
اعتکاف.................................................................. 64
د اعتکاف فضيلت :..................................................... 64
د اعتکاف حکمتونه او فائدې : ........................................... 66
د اعتکاف تعريف او دهغې شرائط ........................................... 68
تعريف : ................................................................. 68
شرائط :.................................................................. 68
د اعتکاف قسمونه :...................................................... 69
( ۱) واجب،نذر،اعتکاف : ................................................ 69
( ۱) مسنون :............................................................ 69
( ۳) مستحب او نفلي : .................................................. 69
دا کارونه اعتکاف ماتوؤنکی دی : ......................................... 70
د اعتکاف مکروهات :..................................................... 71
د اعتکاف آدا ب او مستحبات :............................................ 72
د اعتکاف مباحات : ..................................................... 74

د اعتکاف مسائل ........................ 77
د مسجد حد :........................ 77
د مسجدنه د وتلو حد : ........................ 77
د مسجد په چهت یا پارسنګ باندې ختل :........................ 77
د مسجد د حدودو نه لاپروائي : ........................ 77
اعتکاف په هرمحله کښې سنت کفایه دې : ........................ 77
اعتکاف په کوم مسجد کښې افضل دی :........................ 78
مسنون اعتکاف دکوم وخت نه شروع کیږی : ........................ 78
په ا عتکاف ماتیدو باندې د قضا څه حکم دې : ........................ 78
د معتکف دپاره جائزوناجائز کارونه ........................ 79
قاعده :........................ 79
په مسجد کښې دمعتکف اخستل خرڅول کول : ........................ 80
مباح خبرې کول : ........................ 80
د معتکف په مسجدکښې سر وغیره وینځل : ........................ 80
دمعتکف دپاره نسوار،سګریت استعمال :........................ 80
دمعتکف د ضرورت په وخت محرم ښځې سره ملاویدل :........................ 81
د معتکف په مسجد کښې ځانګل : ........................ 81
د معتکف په مسجدکښې دمریض علاج کول : ........................ 81
دمعتکف په مسجد کښې حجامت جوړول : ........................ 81
د معتکف په مسجد کښې جامې وینځل یا ګنډل : ........................ 82
په اعتکاف کښې پرده زوړندول : ........................ 82
معتکف د اذان دپاره وتلې شی :........................ 82
د طبعی حاجاتو دپاره وتل :........................ 82
د بلغم توکولو یا پوزه صفاکولو دپاره د مسجدنه وتل : ........................ 83

د اودس دپاره د مسجد نه بهر وتل : .......................................... 83
د معتکف د روټۍ راوړلو دپاره د مسجد نه وتل : .............................. 83
د حاجات شرعیه په وجه سره د مسجد نه وتل : ................................. 83
د کلی په مسجدکښې اعتکاف کونکو دپاره د جُمعې دمونځ دپاره وتل :.......... 84
د معتکف دمونځ او د بیمار د پوښتنې دپاره وتل : .............................. 84
د بیت الخلاء د خالی کیدو دپاره انتظار کول :.................................. 85
معتکف که قضائې حاجت دپاره اووتلو نوغسل نه شی کولې :....................... 85
د اعتکاف په ځاې کښې په اجرت باندې تعلیم ورکول : .......................... 85
د معتکف خاموش اوسیدل :........................................................ 85
د ښځې د اعتکاف دپاره دخاوند اجازت ضروری دې : ........................... 85
د اجازت نه پس خاوند دښځې سره کوروالې نه شی کولې :........................ 86
د نابالغه ماشومانو په اعتکاف کښې کیناستل :................................... 86
د خوراک نه پس لاس وینځلو دپاره وتل :......................................... 86
په ورځ کښې خوراک څکاک کول : ................................................ 87
مجنون یا بې هوشه کیدل :.......................................................... 87
احتلام کیدل : ....................................................................... 87
لیلة القدر ............................................................................ 87
د ګناهونو معافی : .................................................................. 87
خبردارې : .......................................................................... 88
"جهګړا او اختلاف" تعیین د لیلة القدر د اوچتیدو سبب : ...................... 88
لیلة القدر او آخری عشره : ......................................................... 89
د لیلة القدر علم د اوچتیدو مصلحتونه : ......................................... 90
( ۱) د غفلت نه بچ کول : ........................................................... 90
( ۲) د سخت عذاب نه بچ کو ل :..................................................... 90

( ٣) د خفګان نه بچ کول : ........................................ 91
( ٤) زیات اجر ورکو ل :............................................ 91
سرسایه :.......................................................... 91
سرسایه کله واجب کیږ ی؟............................................ 92
سرسایه دې کله ادا کړې شی ؟........................................ 92
سرسایه دچا دطرف نه واجب ده ؟....................................... 93
د سرسایه مقدار څه دې ؟............................................ 93
د نیم صاع مقدار څه دې ؟ ........................................... 94
جنس یا قیمت :..................................................... 94
د سرسایه مصرف کوم یو دې؟.......................................... 95
امام ته زکوة او سرسایه ورکول : ....................................... 95

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

# د روژې فضائل ومسائل

## د روژې اهميت :

روژه داسلام د ارکانو نه يو اهم رکن دې۔

د قرآن مجيد دګنړو آيتونو او بې شماره احاديثو نه نه صرف د روژې اهميت اوفضيلت معلوميږي،بلکه ددې شمارپه هغه فرض عباداتو کښې کيږي په کوم چه دايمان او اسلام بنياد دې۔

په قرآن پاک دی چه :

كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ

[البقره :١٨٣]

**ترجمه :** مسلمانانو! په تاسوباندې روژې داسې فرض کړې شوې دی خنګه چه ستاسونه مخکښې امتونو باندې فرض کړې شوې وې۔

ددې نه معلوميږي چه دمونځ په شان د روژې حکم هم الله تعالی نورو امتونوته ورکړې وو او دنبی عليه السلام نه مخکښې چه څومره نبيان او رسولان په دنياکښې تيرشوې دی،هغوی ټولو ددې تاکيد کړې دې،اودې لره ئې فرض ګرځولې ده۔

د اهل کتابو په نزد د روژې رواج اوس هم باقی دې،ددې نه علاوه په مشرک قومونوکښې هم د روژې رواج دقرآن پاک په دې تاريخی شهادت باندې ديقين دپاره کافی دې،صرف چه کوم فرق دې هغه دروژو په تعداد او وخت کښې دې۔دا د اُمتِ مسلمه خصوصيت دې چه په دوی باندې دپوره يوې مياشتې روژې فرض کړې شوې دی۔

## روژه کله فرض شوه ؟

نبی علیه السلام او دهغوی سره صحابه کرامؓ چه کله پورې په مکه کښې وو،کله چه نبی علیه السلام دمکې نه هجرت کولو سره مدینې ته تشریف راوړلو نو هلته تلو نه پس یونیم کاله پورې روژه نه وه فرض شوې ، یونیم کال پس یعنی په دویمه هجرئ کښې د رمضان پوره میاشت روژې فرض شوې۔

## د روژې فضیلت :

دا دالله تعالی دخلقت کرشمه ده۔ هغه په مخلوقاتوکښې بعضولره په بعضوباندې فضیلت ورکړې دې۔ بعضې افرادو لره په بعضو باندې، بعضې ځیزونوله،په بعضې ځیزونوباندې، بعضې ښارونوله، په بعضې ښارونوباندې،بعضې شپوله په بعضې شپوباندې فضلیت ورکړې شوې دې۔

په دنیاکښې انسانان خو ډیردی خوپه دې ټولو کښې اوچت مقام انبیاء کرام علیهم السلام ته حاصل دې۔ ښارونه خو ډیر دی خوپه ټولو ښارونوکښې مقدس ښار مکه مکرمه او مدینه منوره ده۔میاشتې هم ډیرې دی خو درمضان میاشت ته دټولو نه زیاته بابرکته او دفضیلت حامل ده۔

## رمضان څه ځیز دې ؟

راځئ! دټولو نه مخکښې د رمضان حقیقی تعارف پخپله دصاحبِ شریعتﷺ د ژبې مبارکې نه واورئ :

دسیدناسلمان فارسیؓد روایت مطابق دشعبان آخری تاریخ باندې نبی علیه السلام خطبه ورکړه۔په هغې کښې هغوی ارشاد اوفرمائیلو:

”خلقو! په تاسوباندې يوعظمت او برکت والا مياشت راروانه ده.ددې مياشتې يوه شپه د زرو مياشتو نه افضل ده۔ ددې مياشتې روژې الله تعالى فرض کړې دی۔ ددې په شپو کښې دالله تعالى په دربارکښې اودريدلولره ئې عبادت مقررکړې دې۔کوم سړې چه په دې مياشتې کښې دالله رضا اونزديکت حاصلولو دپاره څه نفلي عبادت کوی نو هغه به د نورو مياشتو دفرض برابر ثواب ملاويږی۔

په دې مياشت کښې دفرض اداکولو ثواب د نورو مياشتو د اوياؤ فرضو برابرملاويږی۔ دا د صبر مياشت ده او دصبر بدله جنت دې۔ دا دهمدردئ او غم خوارئ مياشت ده۔ همدا هغه مياشت ده په کومه کښې چه دبندګانو په رزق کښې اضافه کولې شی۔چاچه په دې مياشت کښې چا روژه دارته روژه ماتئ ورکړو،دا دهغه دپاره دګناهونو نه دبخښنې،د دوزخ د اُور نه د آزادئ ذريعه ده، او دهغه روژه دار برابر ثواب به ملاويږی۔بغير ددې نه چه دهغه روژه دار په ثواب کښې به کمې اوشی۔“

عرض اوکړې شو چه : اې دالله رسوله ! مونږ کښې خو هريو روژه دار روژه ماتې نه شو ورکولې۔” په دې باندې نبی عليه السلام اوفرمائيل: “الله تعالى دا ثواب هغه کس ته هم ورکوی څوک چه د پيو په لږه لسې ياصرف داوبو دګونټ په ذريعه دچا روژه دار روژه ماتې اوکړی۔ اوچا چه په چا روژه دار باندې پوره خوراک اوکړو،هغه له به الله تعالى زما دحوض يعنی کوثر نه داسې خړوب کړی چه دهغې نه پس به هغه ته تنده نه لګی تردې پورې چه هغه به جنت ته داخل شی۔”ددې نه پس نبی عليه السلام اوفرمائيل:ددې مياشتې ابتدائی حصه رحمت،مينځمئ حصه مغفرت او آخری حصه د دوزخ د اُور نه د

خلاصی ده۔''ددې نه پس ئې اوفرمائيل:" کوم کس چه په دې مياشت کښې دخپل غلام ، نوکر او خادم په کارونوکښې سپکوالې او کمې اوکړی۔ اللّٰه تعالی به دهغه مغفرت اوفرمائی او هغه ته به د دوزخ نه خلاصې او آزادی ورکړی ''۔

## د نيکو سيزن :

رمضان هغه مقدس مياشت ده چه دې ته په نورو مياشتو باندې فضيلت او فوقيت حاصل دې۔ په دې کښې شيطانان قيدکولې شی۔ د هرې نيکۍ ثواب اويا چنده زياتيږی، د دعاګانو قبليدل زياتيږی۔ په دې مياشت کښې اللّٰه تعالی دخپل بندګانو بخښنه کوی۔ ډير داسې خلق دجنهم نه آزادوی په چاچه دوزخ واجب شوې وی۔ دا هغه مياشته ده په کوم کښې چه قرآن دخلقو دهدايت دپاره نازل شوې دې۔ په دې کښې د هدايت او نيک او بد د تميز واضحې نښې دی۔ دا د رحمت،مغفرت،د جنهم نه د خلاصې او د اللّٰه د قرب حاصلولو خاص مياشت ده۔ په دې کښې د اللّٰه د طرف نه فرښتې آواز لګوی: '' اې بدی کوؤنکيه ته منع شه! اې د نيکۍ کوؤنکيه ته په دې کښې نور طلب پيدا کړه! کله چه د رمضان اوله شپه وی نو دعرش نه يوه هوا چليږی چه دهغې د چپو په وجه سره د جنت د اونو پاڼې او د دروازو زنځير پورې غږيږی ''۔

## روژه دګناهونودمعافۍ ذريعه :

رسول اللّٰه ﷺ اوفرمائيل چه کوم کس د ايمان په حالت کښې د ثواب په نيت سره د رمضان روژه اونيوله،دهغه مخکښنی روستنی ګناهونه به معاف کړې شی ۔ [ بخاری واحمد ]

## په رمضان کښې شيطانان قيد کولې شی :

د رمضان مياشت شروع کيدو سره دجنت دروازې کهلاوهلې شی، د جهنم دروازې بند کولې شی، او شيطانان اوتړلې شی ۔[بخاری و مسلم]

## د روژه دار دپاره دجنت مخصوص دروازه :

په جنت کښې يوه دروازه ده چه هغې ته ”باب الريان“ وئيلې شی،روژه دار به دهغې نه رابللې شی [چه په دې دروازې سره جنت ته داخل شئ] دارنګه روژه دار به په دې باندې داخل شی اوڅوک چه په دې باندې داخل شو هغه به کله هم تږې نه شی ۔ [بخاری ومسلم ]

## د روژه دار د خُلې بوئی الله تعالی ته دمشک نه زيات خوښ دې :

رسول اللهﷺ اوفرمائيل : ”چه د ابن آدم د هرنيک عمل ثواب لس چنده نه تر اووه سوؤ چندو پورې زياتولې شی،خو الله تعالی فرمائی : روژه ددې نه مستثنی ده، په دې وجه چه هغه خاص زما دپاره ده او زه به پخپله [دخپل شان مطابق] د دې بدله ورکوم چه روژه دار زما په خاطر نفسانی خواهشات او خوراک څکاک قربانوی “۔

د روژه داره دپاره دوه خوشحالئ دی، يوه خوشحالی د روژه ماتی په وخت کښې ملاويږی او بله خوشحالی به دخپل رب سره دملاقات په وخت نصيب کيږی،د روژه دار د خُلې بدبوئی دالله تعالی په نزد د مشک د خوشبو نه زياته پاکيزه او خوښه ده ۔ [صحاح سته ]

## د روژه ماتی د انتظام کوؤنکی ثواب :

چاچه د يو روژه دار دروژه ماتې انتظام اوکړوهغه ته به هم د روژه دار په شان ثواب ملاويږی، خو د روژه دار په روژه کښې به کمې نه کيږی ۔ [ترمذی ، نسائی، ابن ماجه ]

## په روژه ماتولو باندې وعيد :

کوم سړې چه [قصدًا] بغير دځه شرعی عذر نه يوه ورځ هم د رمضان روژه اوخوری، په غيررمضان کښې خواه که هغه ټول عمر روژې اونيسی ددې بدل نه شی کيدې۔[ترمذی ،ابوداؤد،ابن ماجہ]

## دا فضائل په څنګه ملاويږی :

١۔ د روژې چه څومره فضائل په پاسنو کرښو کښې بيان کړې شو،د هغې د حاصلولو لازمی شرط دادې چه روژه دهر قسمه منکراتو،معاصی او بدعاتو نه ځان ساتلو سره اونيولې شی،ژبه،غوږ، لاس،خپه،سترګه،پوزه او زړه او دماغ په اطاعت سره معمورشی او د ګناهونو نه اوساتلې شی ۔ د معاش په کسب،معاملاتو، معاشرت غرض دحقوق الله او حقوق العباد په هره شعبه کښې دالله تعالی اودهغه درسول د نافرمانئ نه دبچ کيدو کوشش وی۔

روژه هغه عظيم عبادت دې کوم لره چه قرآن کريم د تقوی يعنی د ګناهونو پريخودلو نسخه ګرځولې ده،خو څومره مسلمانان دی چه پنځوس پنځوس،شپيته شپيته کالو نه د رمضان روژې نيسی، خو دهغوی په ژوند کښې څه ښکاره تبديلی په نظر نه راځی،کوم ګناهونه چه دهغوی په ژوند کښې وو هغه د کالونو نه د روژو نيولو باوجود هم هغسې دی،ددې وجه سيوا ددې نه بل څه هم نه ده چه دنن صبا مسلمانان په روژې سره د ګناه پريخودلو قصد او نيت نه کوی او دګناهونو نه د ځان ساتلو سره د روژې نيولو اهتمام نه کوی ،چه دباطنی مرضونو نه دشفاء حاصليدلو دپاره لازمی شرط دې ۔ داسې روژه د جمهورو علماؤ د رائے مطابق د ذمې نه د فرض ساقط کيدو

ذریعه به جوړه شی خو په دې سره به څه فضیلت او ثواب نه حاصلیږی،دارنګه رسول الله ﷺ فرمائیلې دی : چه کوم سړې روژه اونیسی اوبیاهم د دروغو د کردار او ګفتار نه منع نه شی نو الله تعالی ته دهغه د اوږې تږې پاتې کیدو څه غرض نشته دې ـ "[ بخاری]
ډیر روژه نیوؤنکی داسې دی چه دهغوی دپاره د روژې ثمره سیوا د اوږې پاتی کیدو نه نور څه نه وی او ډیر شپه رونړونکی داسې چه دهغوی دپاره د شپې رونړه کولو بدله سیوا د ویخ پاتی کیدو نه نور څه نشته۔

۲۔ په دورِ حاضرکښې عمومًا د فضائلو په بیان باندې ښه زور ورکولې شی او د فضائلو د حصول د موانعو او وعیدونو ذکر ډیر کم کیږی،چه په هغې سره دعوامو په غیرمحسوس طور باندې دا نظریه جوړیږی چه ښه ګناهونه اوکړه،په روژو سره،لیلة القدرسره یا په فلانی نیک عمل سره ټول مخکښنی روستنی ګناه معاف کیږی۔

ددې متعلق دا حقیقت په ښه طریقې سره په ذهن کښې کینول پکار دی چه په کومو روایاتو کښې د رمضان د روژو،دشب قدر دعبادت یا په کوم نیک عمل سره چه دګناهونو دمعافۍ ذکر دې ،دعلماؤ په نزد ددې نه مراد د وړو ګناهونو معافی ده ـ ټی وی،وی سی آر،ګانې بجانې بغیر دضرورت نه تصویرجوړول یا په کور کښې لګول، غیبت کول یا اوریدل، ګیره خرئیل یا کټ کول،د ښځو شرعی پرده نه کول،د سړو ګیټۍ پټول، دبینک انشورنس یا په کومه حرامه ذریعه سره ګټل اودداسې خلقو دعوتونه او هدیې قبلول، بدعات او د قبیح رسومونو پابندی،په ناجائزه طریقه سره اخستل خرڅول،دحقوق العبادو او

فرائضو او واجباتو په ادا کولوکښې کوتاهی کول نودا ټول د لویوګناهونو نه ترڅو پورې چه د زړه په صدق سره توبه او استغفار او آئنده ترې نه دځان ساتلو پخه اراده اونکړې شی، هغه په هیڅ عمل باندې هم نه معاف کیږی په دې وجه په هرمسلمان باندې لازم دی چه د مقدس میاشتې شروع کیدو سره دهرقسمه ګناهونو نه کلیةً ځان اوساتلې شی او د کومو ګناهونو چه عادت پوخ شوې دې، هغې لره همیشه دپاره د پریخودلو دنیت په استخضار سره روژه دې اونیولې شی، کچرې په دې اهتمام سره د رمضان د مبارکې میاشتې دا مختصر غوندې وخت تیرکړې شی نو څه وجه نشته چه دنفس اصلاح اونه شی او دنیاوآخرت لره تباه کوؤنکې مهلک مرضونو او معاصیو نه خلاصې ملاؤ نه شی۔ ځکه چه د الله تعالی بیان شوې نسخه خو کله هم غلطه نه شی کیدې ۔

## د روژې فلسفه او فائدې

د یو حقیقت دې چه انسان اشرف المخلوقات دې او ددې د رفعت او عظمت او د تسلط او اقتدار په مخکښې دټول کائنات سرښکته دې خو په دې خبره ډیر کم خلق پوهیږی چه د انسان د شرافت او اعزاز او عظمت واقتدار معیار او سبب څه دې؟

۱۔ د انسان شرف او اعزاز په دې خبره کښې دې چه هغه سرکشه نفس لره په قابوکښې راولی په خپلوخواهشاتوباندې غالب راتلوسره فرائض عبدیت لره په ځاې راوړی،اودخپل پیداکیدومنشاء لره پوره کړی،دالله تعالی د پیژندګلواو دهغه درضا په تلاش کښې اوسی چه همدا د ده اهم فریضه ده۔ غرض دا چه شریف مغزز اوسعادت مند انسان هغه دې چه په خپل نفس باندې قابو اوموی او هغه لره

پاکیزه جوړ کړی۔ نفس په قابوکښې د رواستلو دپاره د درې څیزونو ضرورت دې۔

(۱) اول داچه نفس لره دټولو شهوتونو او لذتونو نه منع کړې شی ځکه چه کله سرکش اس ته دانه واښه ملاؤ نه شی نو هغه تابع کیږی دغه شان دنفس سرکشی هم لرې کیږی۔

(۲) دویم په ده باندې دعبادت ډیر بوج واچولې شی ځنګه چه ځناور ته دانه واښه کم ملاؤ شی اوپه هغه باندې بوج واچولې شی نو هغه نرمی ظاهروی همدا حال د نفس دې۔

(۳) دریم هروخت دالله تعالی نه مدد غواړې ۔

لږ غور خو اوکړې چه دا درې واړه خبرې په روژه کښې په اتم او اکمل درجې سره ایخودلې شوې دی،ددې نه معلومه شوه چه دنفس قوت ماتولو دپاره او خپل ټول قوتونو لره په اعتدال کښې راوستلو د پاره مونږته د روژې نیولو حکم شوې دې۔

۲۔ یوه فلسفه داهم ده چه مصیبت زده انسان د بل کس د پریشانئ او غم صحیح احساس کولې شی او په روژه کښې دا خبره موندلې شی چه د لوې نه لوې سرمایه دار او دولت مند ته هم کله یوځل د لوږې تندې ذائقه [د روژې په وجه سره] څکلو موقع ملاویږی او چه دخپلووړو ماشومانو د روژې په وجه سره متغیر حالت وینی اوهغه ته د غربت زده خلقو د لوږې احساس کیږی۔ او چه هم دا خبره  د زړه په یو ګوټ کښې راوچتیږی چه ددې مفلوک الحال اوږو تږو خلقو په صدقه او خیرات سره مدد اوکړې شی ۔

۳۔ د طب د اصولو په رُو سره روژه د بدنی صحت حاصلولو دپاره بهترینه

ذریعه ده۔ په دې وجه چه یوولس میاشتې چه کوم خراب او فاسد رطوبتونه په بدن کښې جمع شوې وی هغه د یوې میاشتې په روژو نیولو سره ټول اوچیږی، په صحت او توانائې کښې ښکاره ترقی کیږی۔

٤۔ په روژې سره د اخلاق او روحانیت قوتونه پیدا کیږی،او زړه او دماغ روښانه کیږی۔ دلوږې تندې تکلیف د ګناهونو کفاره کیږی او انسان د نفس قابوکولو په اعتبارسره انسان جوړیږی۔

٥۔ په روژې سره په مزاج کښې عاجزی او انکساری راځی،د لوږې د مصیبت او د تکلیف اندازه کیږی اوپه دې وجه سره د ټولو انسانانو سره د مصیبت او تکلیف په وخت کښې د امداد جذبه پیدا کیږی۔

## د رمضان میاشت او څو غلط فهمئ

### د ګناهونونه ځان نه ساتل :

ډیر خلق په خاص موقعو باندې دعبادت ښه اهتمام کوی، خو د ګناهونو نه د بچ کیدو اهتمام نه کوی، بلکه نن صبا خو مسلمان د ډیر لویو ګناهونو فهرست راویستلې دې۔ مثلاً :

(١) د سرو ګیره خرئیل یا د یو متی نه کمول۔

(٢) د ښځو د نامحرمو نزدې رشته دارانو لیور،مشرلیور،د تره ځوې،د ترور ځوې،د ماما ځوې د خاله ځوې،د ایندرور د خور خاوند وغیره سره اختلاط (ګډون) ۔

(٣) ټی وی،وی سی آر کتل۔

(٤) سندرې ګانې اوریدل

(٥) بغیر دضرورت نه تصویر ویستل، کتل،ساتل.

(٦) بینک،انشورنس وغیره حرام د آمدن ذریعې اختیارول،اود داسې

خلقوسره دعوتونه خوړل او د هغوی تخفې قبلول۔

(۷) د سړو ګیتې پټول۔

(۸) غیبت کول، اوریدل۔

ترڅو پورې چه ددې لویوګناهونو نه د بچ کیدو اهتمام اونکړې شی،دنجات دپاره کافی نه دی،کچرې د ګناهونو نه د بچ کیدو اهتمام وی،او د زیات نفل عبادت کولو موقع هم ملاؤ نه شی،په فرائضو او واجباتو باندې عمل اوکړې شی نو ان شاء الله نجات به ملاؤ شی،رسول اللهﷺ اوفرمائیل: **اِتَّقِ الْمَحَارِمَ تَكُنْ اَعْبَدَالنَّاسِ**۔ یعنی د الله تعالی حرام کړې شوې کارونو نه ځان اوساتئ،د ټولو نه لوې عبادت ګزار به جوړ شئ۔په قرآن کریم کښې دی:**اِنَّمَا يَتَقَبَّلُ اللّٰهُ مِنَ الْمُتَّقِيْنَ**یعنی الله تعالی د ګناهونو نه د بچ کیدو نکو عملونه قبلوی۔

په بعضې ګناهونو سره نیک اعمال ضائع کیږی بلکه بعضې وختونوکښې کفرته خبره اورسی۔ په دې وجه جبرئیل علیه الصلوة والسلام د الله تعالی په حکم سره د هغه سړی دپاره د تباهئ او بربادئ بددعا اوفرمائیله او رسول اللهﷺ په هغې باندې آمین اوفرمائیلو،په چاچه د رمضان میاشت راغله بیاهم د هغه بخښنه اونه شوه ۔ چه کوم کس په داسې مبارک لمحاتو کښې هم په ګناهونوکښې مست وی نو هغه د تباهئ او بربادی مستحق دی ۔ دهغه د مغفرت دپاره او د دې خیروبرکت مقدسې میاشتې نه به زیات مقدس بل کوم وخت وی؟

## په نفل عبادت کولو کښې غلطیانې:

(۱) بعضې خلق د شپې په وخت کښې نفل مونځ کولو لره ضروری ګنړی او بعضې خو د دې نه زیات په بعضې مخصوص سورتونوسره په خاص

انداز سره مونځ کول ضروری ګڼړی۔په دې شپه کښې د څه خاص قسم عبادت تعين نشته دې۔ نفل مونځونه اوکړئ،تلاوت اوکړئ،درود شريف اولولئ،د الله ذکر اوکړئ،دعا اوغواړئ يا زړه لره الله تعالى طرفته متوجې کولو سره د هغه احسانات،انعامات، عظمت او شان لره سوچ کولوسره دهغه محبت په زړه کښې د کوزلو اود زياتولو کوشش اوکړئ ۔ داټول په عبادت کښې داخل دی ۔

(۲) عمومًا خلق د نفل کولو دپاره جماتونوته د تلو اهتمام کوی، هرکله چه د هرقسمه نفل عبادت ثواب د جمات په ځاې په کور کښې ډير دې۔ رسول الله ﷺ اوفرمائيل :

”په خپل کورونو کښې مونځونه کوئ او هغې لره قبرستان مه جوړوئ“.[ بخاری ]

مطلب دادې چه څنګه په قبرستان کښې خاموشی وی،دغه شان کورونو لره ويران مه جوړوئ،بلکه په ذکروعبادت سره هغې لره آبادساتئ۔ياداچه څنګه په قبرکښې مونځ وغيره عبادات نه کيږی دغه شان کورونه هم ددې مونځ وغيره عباداتو نه مه خالی کوئ۔ په دې وجه د کور زنانو ته هم د عبادت ترغيب ورکوئ او دعبادت ماحول جوړول پکار دی او سړو لره نفل عبادت دجمات په ځاې په کور کښې کول پکار دی۔

(۳) په بعضې ځايونو کښې خلق جماتونوکښې جمع کيدو سره دنفلونو جمعې کوی لکه صلوة تسبيح وغيره۔ د نفلو جمعَ ډير لوې بدعت او ګناه ده ۔

(٤) ډير خلق په طبيعت باندې جبرکولو سره چائے څکلو ،لونګ

چوپلوچوپلو سره ټول شپه د ویخ پاتې کیدو تدبیر کوی،چه د هغې نتیجه دا راوځی چه د بعضې خلقو نه د سحر مونځ قضاکیږی یاترینه جمعَ لاړه شی یا په مونځ اسویلی کوی ـ دا ډیره لویه غلطی ده چه د نفلو د خاطره فرض یا واجب پریخودلې شی یاپه دې کښې کوتاهی وی۔عبادت هغه مقصود اوقابل قبول دې چه په رغبت او شوق سره وی ـ د زړه په زور سره چه څومره عبادت اوکړې شی،کله چه ستړې شی یا دخوب غلبه وی او زړه نه لګی چه په هغې سره د ژبې نه د څه راوتلو اندیښنه وی نو اوده شه،خصوصًا د سحر مونځ یاپه جمعَ کښې هیڅکله کوتاهی مه کوئ۔ اصل څیز دا دې چه په زړه کښې د الله د محبت پیداکولو کوشش اوکړئ،محبت که پیداشی نو یو نه په زرګونو شپې په عبادت کښې تیریدلې شی، او د الله تعالی د محبت پیدا کولو دپاره د چا عالم باعمل حق پرست شیخ کامل صحبت اختیارول د هغه سره دې د اصلاح تعلق قائم کړې شی ـ

# د روژې اهم بحثونه

**"صوم"(روژه):**

روژې ته په عربئ کښې صوم وائی۔ او په اصطلاح کښې روژه وائی: دصبح صادق نه تر نمر پریوتو پورې د ثواب په نیت سره د خوراک څکاک او جماع نه ځان ساتل دی ،دهغه خلقو دطرف نه چه ددې اهل [مکلف] دی ـ

## د روژې قسمونه

(۱)د وخت د تعین او عدم تعین په اعتبارسره د روژې دوه قسمونه دی :

(۱)صوم عین (۲)صوم دَین

**صوم عين :**

دا هغه روژه ده دکوم دپاره چه وخت مقرر وی ـ بیا دا په دوه قسمه ده ـ

- یاخو الله د هغې دپاره څه وخت مقرر کړې وی څنګه چه د رمضان ورځې د فرض روژو دپاره او یا د رمضان نه علاوه ورځې دبعض نفل روژو دپاره چه د شریعت د طرف نه متعین دی لکه ایام بیض،یوم عاشوره وغیره ـ
- یا د څه بنده د طرف نه وخت متعین شوې وی لکه څه مخصوص ورځ باندې د روژې نیولو نذَر منل۔

**صوم دين :**

دا هغه روژه ده دکوم دپاره چه څه خاص وخت مقرر نه وی بلکه د رمضان او ممنوع ورځې [ایام تشریق او د وړوکی اختر ورځ] لره پریخودل باقی په کومه ورځ هم د هغې نیول صحیح وی لکه د رمضان قضاء نذرغیرمعین،د کفارې روژې او عام نفلی روژې وغیره ـ

**(۲) دحکم په اعتبار سره د روژو قسمونه :**

د حکم په اعتبارسره د روژو اووه قسمونه دی:

(۱)فرض (۲)واجب (۳)مسنون (٤)مستحب
(٥)نفل (٦)مکروه تنزیهی (۷)مکروه تحریمی

**فرض :**

په دې د رمضان روژې خواه ادا وی یا قضا، ټولې د کفارو روژې،د حج په دوران کښې د ښکار او د بعضې جنایاتو په بدله کښې لازم کیدو والا روژې هم فرض دی ـ

**واجب :**

د جمهورفقهاؤ په نزد د نذر روژۍ واجب دی۔ دغه نفل روژه هم د شروع کولو نه پس فاسدکولو سره واجبیږی،کچرې چا د اعتکاف نذر اومنلو نوهغې سره هم روژې نیول واجب دی۔

**سنت :**

د عاشورې ورځی یعنی د لسم محرم روژه نیول په دې شرط چه ورسره د نهم یا یوولسم محرم روژه هم اونیولې شی۔

**مستحب :**

د ایام بیض یعنی د هرقمری میاشتې په څوارلسمه، پنځلسمه، شپاړسمه ورځ روژه،دغه شان د ګل او زیارت په ورځ او صوم داؤدی (یعنی د داؤدؑ روژې) یعنی یوه ورځ روژه نیول او یوه ورځ نهٔ نیول او دعام مشائخو په نزد د شوال شپږ روژې۔

**نفل :**

د پاسنو ذکرشوؤ نه علاوه ټولې روژې د کوم په باره کښې چه د شریعت د طرف نه په کراهت باندې څه دلیل نه وی۔

**مکروهِ تنزیهی :**

په دې صورتونو او ورځو کښې روژې نیول مکروه تنزیهی دی۔

(۱) صرف خاص دهفتې په ورځ روژې نیول ۔ دیهود دمشابهت په وجه سره مکروه ده ۔ اتفاقی صورت ترینه مستثنیٰ دې۔

(۲) صرف جمعه د روژې دپاره خاص کول۔ یابله څه ورځ په ځان باندې لازم کول ۔

(۳) صوم وصال،یعنی متواتر روژې نیول چه په مینځ کښې افطار نه کوی۔

(٤) ټول عمر روژې نيول۔
(٥) د شک د ورځې روژې نيول په متردد نيت سره ۔
(٦) صوم الصمت يعنی د روژې سره د خبرو نه هم پرهيز كول۔
(٧) د ښځې دخاوند د مرضې نه خلاف نفلی روژه نيول ۔
(٨) دداسې حاجی دپاره د عرفې او ترويې په ورځ روژه نيول په كوم سره چه دهغوی د حج په مناسكو كښې خلل پريوتلو انديښنه وی ۔

**مكروه تحريمی :**

د وړوکی اختر او لوی اختر په ورځ روژې او د ايام تشريق يعنی د قربانۍ د ورځې نه پس درې ورځې ۔

بعضې فقهاؤ دې ته مطلق حرام وئيلې دی ۔

**د نيت سره متعلق مسائل :**

نيت بس يو حد پورې كافی دې چه په زړه كښې ده ته معلومه وی چه فلانې روژه مثلاً د رمضان يا د نذر نيسم،بلكه د روژې تذكره كولو نه بغير صرف پشمنې اوخوری نو دا هم د نيت قائم مقام دې ۔

البته پشمنی خوړلو سره نيت اوكړی چه سحر به روژه نه نيسم اوبيا ئې روژه اونيوله نو دا پشمنې خوړل به د نيت قائم مقام نه وی ۔

- كچرې د شپې نه ئې د روژې نيت اوكړو،بيائې نيت بدل شو او پخه اراده ئې اوكړه چه روژه نه نيسم نو د روژې نيت ئې باطل شو،اوس كه د نوې نيت كولو نه بغيرئې همداسې په لوږه تنده كښې ټوله ورځ تيره كړه نو روژه ئې اونه شوه۔
- د روژې نيولو نه پس ئې په زړه كښې د روژې ماتولو نيت اوكړو نو روژه نه ماتيږی ترڅو پورې چه څه خبره د روژې ماتولو ترينه

صادره نه شی۔

- کچرې د شپې نه ئې د روژې نیت اوکړو او اودهٔ شو بیا د سحرکیدو نه مخکښې راپاسیدو څه ئې اوخوړل اوڅکل نوبیا هم په نیت کښې څه خلل نه راځی او روژه به صحیح شی ۔

[خلاصة الفتاویٰ : ۱/ ۲۵۱، عالمگیریه :۱/ ۱۵۵ ]

- د رمضان په میاشت کښې هره ورځ جدا جدا نیت کول ضروری دی که د رمضان په شروع کښې ئې نیت اوکړو چه پوره میاشت به روژې نیسم نو دا نیت صرف د اولې روژې د حده پورې معتبر دې۔د راتلونکی صبا د روژې نیت به د نمر پریوتلو نه پس شروع کیږی ددې نه مخکښې وقت کښې د نیت اعتبار نشته دې ۔
- که چرې څوک د رمضان،نذرمعین یا د نفل روژې نیول غواړی نو افضل دادی چه هم د شپې نه د هریو تعین کولو سره نیت اوکړې،خو که د شپې نه ئې نیت اونکړو،نو د نیمې ورځې [غرمې] نه مخکښې هم نیت کولې شی،په شرط ددې چه اوسه پورې ئې څه خوړلې څکلې نه وی۔ روژه نیونکې خواه مسافر وی یامقیم،تندرست وی یا بیمار، خو د ورځې نیت کونکې دې دا نیت اوکړی چه د ورځې د شروع کیدو[صبح صادق] نه زما روژه ده،که ددې په ځاې دا نیت اوکړی چه ددې وخت نه زما روژه ده تو روژه به نه وی۔
- که چا د رمضان، نذرمعین یانفل روژه کښې د تعیین نه بغیر د مطلق روژې،یانفل روژې نیت اوکړو نوهم جائزه ده۔ یعنی د رمضان کیدو په صورت کښې به د رمضان روژه شماریږی او د

نذر معین په صورت کښې به هم د نذر روژه شمار وی ـ

- که په رمضان کښې په چاباندې بې هوشی راغله یا لیونې شو بیا دنیمې ورځې نه مخکښې په هوش کښې راغلو د روژې نیت ئې اوکړو نو روژه به صحیح وی ـ
- دا حکم دهغه درې قسمه روژو د اداء وو،د دې درې قسمه د قضاء او د روژې باقی ټول قسمونه [کفارات یعنی د قسم کفاره،د روژې کفاره،دقتل کفاره او نذرمطلق] کښې د هرې روژې په متعین طورباندې د شپې نه نیت کول ضروری دې ـ کچرې په دې کښې چا د روژې نیت د صبح صادق نه پس یا د مطلق روژې نیت اوکړو یا د نفل روژې نیت ئې اوکړو نوهغه به نفل روژه وی چه هغې لره پوره کول مستحب دی او په ماتولو ئې قضا نشته ـ

[ عالمگیریه :۱/ ۱۹۵،طحاوی علیٰ مراقی الفلاح :۳۲۵]

## د نصف النهار مطلب :

دصبح صادق نه د نمرپریوتلو پورې د پوره وخت نیم ته نصف النهار شرعی وئیلې شی،که صبح صادق شپږ بجې وی او نمر پریوتل هم شپږ بجې وی نو نصف النهار(نیم) به دولس بجې وی،د دې نه مخکښې نیت کیدلې شی۔ د دې وخت مقدار په هرموسم کښې او هر مقام کښې مختلف وی،د ذکرشوې ضابطې مطابق دې عمل اوکړې شی ـ

## د روژې سنت

د روژې دوه سنت دی: (۱)پشمنې خوړل (۲)روژه ماتې کول

## پشمنې خوړل :

پشمنې خوړل سنت دی،کچرې لوږه نه وی او خوراک اونکړی نو

کم نه کم دوه درې چهوارې دې اوخوری یاڅه بل څیز لږ دې اوخوری، که څه هم نه خوری نو لږې اوبه دې اوڅکی ـ

## په پشمنی کښې سترګې اونه غړیدې :

که د شپې د پشمنی خوړلو دپاره سترګې اونه غړیدې،ټول په ټوله اوده وو نوبغیر د پشمنی خوړلو نه دې سحر روژه نیول ضروری دی،د پشمنی نه خوړلو په وجه سره روژه نه نیول د لوې کم همتئ خبره ده او لویه ګناه ده ـ

## په مشتبه (دشک په) وخت کښې پشمنې خوړل :

کچرې دومره ناوخته شو چه د سحر کیدو شبه ورته اوشوه نو اوس څه خوړل مکروه دی اوکه په داسې وخت کښې څه اوخوړل نو بد ئې اوکړل او ګناه به وی۔ بیاورته معلومه شوه چه دې وخت کښې سحر شوې وو نو د هغه روژې دې قضاء اونیسی او که څه هم معلومه نه شوه شبهه په شبهې پاتې شوه نو قضاء نیول واجب نه دی خو احتیاط په دې خبره کښې دې چه قضا اونیسی ـ

## روژې ماتې کول :

د پشمنی په شان روژه ماتې کول هم د روژې په سنتو کښې دی۔

## روژه په کوم څیز سره ماتول پکار دی :

په چهوارې سره روژه ماتول بهتر دی،یاڅه بل خوږ څیز وی په هغې سره دې ماته کړی،که هغه هم نه وی نو په اوبو سره دې ماتې کړی،بعضې خلق د مالګې په کانړی سره روژه ماتوی اوپه دې کښې ثواب ګنړی ،داخیال غلط دې ـ

# د روژې مفسدات

**قاعده:**

په خوراک څکاک یاکوروالی کولو سره روژه ماتیږی خواه صورتًا وی یا معنًی ـپه شرط د دې چه روژه یاده وی ـ

بیاخواه که قصدًا وی یا خطاءً په عذرسره وی یا بغیر دعذرنه، یا په جبر و اکراه سره،خواه دخوب په حالت کښې وی یا دبیدارئ،خواه په هوش کښې وی یا په نشه او د لیونتوب په حالت کښې ـ

## (۱) روژه یاده وی په خطا سره ئې څه څیز اوخوړلو یاپه زبردستئ سره پرې اوخوړلې شو:

روژه یاده وه خو په غړغړی کولو سره یا په پوزه کښې اوبه اچولو سره څه اوبه خلق ته لاړې یاپه خوب کښې ورته چا په خله کښې اوبه واچولې او وې څکلې یاپه خوراک څکاک او جماع باندې مجبوره شو نو روژه ماتیږی یعنی د روژې ماتولو په صورت کښې د مړ کولو یا د یو اندام د ختمولو یا د څه لوې صدمې ورسولو دهمکی ورکړې شوه او ده روژه ماته کړه نوپه دې سره روژه ماتیږی،دغه شان په هیره ئې خوراک څکاک اوکړو او دهٔ دا ګمان اوکړو چه زما روژه ماته شوه قصدًا ئې خوراک څکاک اوکړو یا ئې کوروالې اوکړو نوپه دې صورت کښې هم روژه ماته شوه چه ددې په قضاء کښې صرف روژه نیول فر ض دی ـ

## (۲) دقی صرف دوه صورتونه روژه ماتونکی دی:

د قی ډیر زیات صورتونه دی ـ په هغې کښې صرف دوه صورتونو سره روژه ماتیږی۔ یوه داچه قصدًا په ډکه خُله قې اوکړی خواه بهر ئې اوغورزوی یائې واپس کړی ـ

دویم صورت دادې چه بې اختیاره په ډکه خُله قې راشی او هغه ئې قصدًا واپس کړو اګرچه د چڼړې برابر ئې واپس کړې وی،په دې دواړو صورتونوکښې روژه ماتیږی،صرف قضاء واجب کیږی، په شرط ددې چه د قی کولو په وخت ورته روژه یاده وی۔بیاخواه په قی کښې که خوراک یا اوبه یا صفراء یا وینه راشی۔ ددې دواړو صورتونو نه سیوا چه څومره صورتونه دی په هیڅ یو کښې هم روژه نه ماتیږی،مثلاً که په قصد سره قې کړې وی او په ډکه خُله نه وی راغلې یا بې اختیاره راشی خو د ډکې خُلې نه کم وی یاپه ډکه خُله وی که واپس ئې تیرکړې نه وی ۔ خواه هغه بهر راوځی یا بې اختیاره واپس شی یائې واپس کړوخو روژه دار کیدل ورته یاد نه وو نو په دې ټولو صورتونو کښې روژه نه ماتیږی۔[ قاضی خان علی هامشالهندیه: ۱/ ۲۱۱ ردالمختار :۲ ]

که په یو مجلس کښې ئې قصدًا بار بار قې اوکړو چه هغه راجمع شی نو د ډکې خُلې مقدار ته اورسی نو روژه ماته شوه او که مجموعی مقدار ئې ددې نه کم دې یائې په څو مجلسونو کښې دومره قې اوکړو نو روژه نه ماتیږی۔[ فتح القدیر :۲٦۰ وغیره]

## (۳)په کوم صورتونو کښې چه د روژې ماتیدو باوجود هم د نمر پریوتلو پورې خوراک څکاک کول صحیح نه دی :

چه دشپې په ګمان سره پښمنې اوخوړلوحالانکه سحرشوې وو یا ئې دنمر پریوتلو په ګمان سره روژه ماته کړه حالانکه ورځ تراوسه باقی وه یامسافر په ورځ کښې د سفرنه راوپس شو یا ښځه په ورځ کښې د حیض یا د نفاس نه پاکه شوه یا مجنون په ورځ کښې ښه شو یا د چا روژه ماته شوه خو په جبره سر پرې ماته کړې شوه یا په غلطئ سره اوبه

وغیره حلق ته لاړې یاکافر په ورځ کښې مسلمان شو یا نابالغه بالغ شو نو په دې ټولو صورتونو کښې د ورځې باقی حصه بغیر دخوراک څکاک نه د روژه دارو په شان تیرول واجب دی او د آخری دوه کسانو [نوې مسلمان،نوې بالغ شوی] نه علاوه په باقی ټولو باندې د دې روژې قضاهم واجب ده۔

کچرې بچی د بلوغ نه پس د نصف النهار نه مخکښې د روژې نیت اوکړو،هرکله چه ئې تراوسه پورې خوراک څکاک نه وی کړې نو د هغه به نفل روژه شی،ښځه دصبح صادق نه پس پاکیدو سره د روژې نیت اوکړو یا کافر د مسلمان کیدو نه پس نیت اوکړو نو د هغه روژه به نه کیږی نه فرض نه نفل۔ [ البحر الرائق: ۲/۲۸۸، ردالمختار: ٤/ ۳۸٤، طبع دارالعرفة]

# د روژې مکروهات

## (۱)بغیر دڅه عذر نه څه څیزڅکل یا چُوپَل:

بغیر د عذر نه څه څیز څکل یا په خُله کښې ایخودل او چوپل د روژه دار دپاره مکروه دی۔که په عذرسره ئې اوڅکی مثلاً د یوې ښځې خاوند بدمزاجه دې او ښځې ته یره ده چه که په اینګولی کښې مالګه کم یازیاته شوه نو خاوند راته ورانیږی، نو په ژبې سره په څکلو کښې کراهت نشته ۔

دغه شان د ښځې د ماشوم بچی دپاره بغیر د عذر نه څه څیز چوپل په هغه خوړل هم مکروه دی،خو که عذر وی د ماشوم دپاره نور نرم خوراک موجود نه وی نه بغیر د روژې نه بل څوک موجود وی چه ماشوم دپاره خوراک نرم کړی نوپه داسې صورت کښې کراهت نشته۔

دغه شان که روژه د خوراک څیز اخستلو په وخت کښې په ژبې سره

اوځکې نو کراهت نشته،په دې شرط چه د هغه څیز هغه ته سخت حاجت وی او بغیر د څکلو نه په اخستلو کښې د نقصان یره وی ـ په دې ټول صورتونو کښې د کراهت حکم د فرض او واجب روژې متعلق وو، که نفلی روژه وی نو کراهت نشته۔

[عالمگیریه : ۱۹۹/۱،ردالمختار:۲/ ٤١٦]

## (۲) قصدًا لاړې جمع کول او تیرول :

په خُله کښې قصدًا لاړې جمع کولو سره تیرول مکروه دی خو که بغیر قصده جمع شی نو تیرول مکروه نه دی۔ [ مراقی الفلاح مع الطحطاوی:۳۷۲]

## (۳) منجن یا پیسټ :

په کوئلې،منجن او ټوت پیسټ سره غاښونه صاف کول او د ښځو مسی یا دنداسه لګول مکروه دی۔ که د دې څه حصه د حلق نه لاندې تیره شوه نو روژه به ماته شی ـ

[ امدادالفتاویٰ :۲/ ١٤١ واحسن الفتاویٰ:٤/ ١٣٩]

## ( ۴) بغیر د ضرورت نه غاښونه ویستل :

داسې خو په روژه کښې په ډاکټر سره غاښ یا داړه ویستل او د هغه په ځاې دوائی لګول د سخت ضرورت په وخت جائز دی او بغیر د ضرورت نه مکروه دی ـ که دوائی یا وینه د حلق نه لاندې لاړه او په لاړو باندې غالب وی یا د هغې برابر وی یا د هغې مزه محسوسه شی نو روژه به ماته شی۔ [رد المختار:٤/ ٣٩٦]

## ( ۵) غیبت وغیره :

غیبت،چغلی،دروغ،بهتان تړل،بیهوده خبرې،کنځل،چاته تکلیف رسول او د ګناه ټول کارونه،داسې خو په هروخت او هرحال کښې حرام

او ناجائز دی خو د روژه دار سړی دپاره د دې حرمت و شناعت دوه چنده کیږی او ددې په وجه روژه خو ماتیږی نه،خو سخت مکروه دی،بلکه دحدیث مطابق ددې ګناهونو نحوست سره د روژې اجر وثواب ختمیږی ۔

## په کومو وجوهو سره چه روژه نه نیول جائز دی-

### ( ۱) بیماری زیاتیدل یا دځان یره :

**مسئله :** کچرې یو کس داسې بیمار دې چه په روژې نیولو سره هغه ته نقصان کیږی او دا یره ده چه که روژه اونیسی نو بیماری زیاتیږی یابه روستو ئې طبیعت جوړیږی یا دځان تللو یره پیدا شی نو روژه دې نه نیسی ۔ کله چه تندرست شی نو د هغې قضاء دې اونیسی ۔خو صرف په خپل زړه کښې داسې خیال کولو سره روژه پریخودل صحیح نه دی،بلکه کله چه څوک مسلمان دیندار حکیم، ډاکټر اووائی چه روژه اوس نیول بهتر نه دی تاته به نقصان درکړی نوبیا روژه نه نیول پکار دی۔

**مسئله :** کچرې حکیم یا ډاکټر کافردې یا د شرع پابند نه دې نو د هغه د خبرې اعتبار نشته صرف د هغه په وینابانديې روژه نه دی پریخودل پکار۔

**مسئله :** کچرې حکیم څه اونه وئیل خو پخپله ئې تجربه ده او څه داسې نښې نښانې ورته معلوم شوې د کوم په وجه سره چه زړه ګواهی ورکوی چه روژه به نقصان درکړی نوبیابه هم روژه نه نیسی۔ که په خپله تجربه کار نه وی او ددې بیمارې څه حال هم نه وی نوصرف د خیال اعتبار نشته ۔

که د ديندار حکيم د وينا نه بغير او د تجربې کولو نه بغير په خپل خيال وګمان سره د رمضان روژه ماته کړی نو کفاره ورکول به وی ـ اوکه د سحر نه ئې روژه نه وی نيولې نو ګنهګار به وی قضابه واجب وی کفاره نشته۔

**مسئله :** که د بيمارئ نه صحيح شو خو اوس هم کمزوری باقی ده او دا يره ده که چرې روژه اونيسم نو بيا به بيمار شم نوبياهم روژه نه نيول جائز دی ـ

**( ۲) په سفر کښې روژه :**

**مسئله :** که څوک مسافر په سفر کښې وی نودهغه دپاره جائز دی چه روژه اونه نيسی بياروستو ددې قضا راوړی ـ

**مسئله :** مسافرته که په روژې سره څه تکليف نه وی لکه په ريل کښې سور وی او داخيال ئې دې چه مابنامه پورې به کورته اورسم يا ده سره ټول دراحت اوآرام سامان موجود وی نوپه دې حالت کښې داسې وخت په سفرکښې روژه نيول بهتر دی بلکه که روستو ئې قضاء هم اونيسی نوبياهم ګناه نشته ـ البته د رمضان د روژې چه کوم فضيلت دې دهغې نه به محرومه شی اوکه په لاره کښې ورته د روژې په وجه سره تکليف او پريشانی وی نو په داسې وخت کښې روژه نه نيول بهتر دی ـ

**مسئله :** که د بيمارئ نه تندرست نه شو،اوپه دې کښې مړشو اوسه پورې کورته نه وو رسيدلې،په سفرکښې مړ شو اوکومې روژې چه ئې دبيمارئ يا د سفر په وجه سره پريخې وی او دهغې دقضاء موقعه ملاؤ نه شی نوپه آخرت کښې به په دې نيول نه وی ځکه چه د قضاء نيولو مهلت اوسه پورې ده ته نه وو ملاؤ شوې ـ

**مسئله :** که په لاره کښې د پنځلس ورځو پاکیدو په نیت سره پاتې شو اوس روژه پرېخودل صحیح نه دی ځکه چه هغه اوس مسافرپاتې نه شو. که دپنځلس ورځو نه دکم پاتې کیدو نیت ئې وی نو روژه نه نیول به صحیح شی ۔

## ( ۳ )حاملې او پئ ورکونکی (ښځې)ته کله رخصت دې؟

حاملې ښځې ته او پئ ورکونکی ښځې ته که دخپل ځان یا دماشوم یاځه قسم یره وی نو هغه دې روژه نه نیسی بیادې روستو قضاء اونیسی ۔ خو که ددې خاوند دومره مالداره دې چه ځوک دائی اوساتی ماشوم ته پئ ورکړی نوبیا دپیو ځکلو په وجه سره ئې مورله روژه پرېخودل صحیح نه دی ۔ البته که هغه داسې ماشوم وی چه مور نه بغیر د بل چا پئ نه ځکی نوپه داسې وخت کښې مورته روژه نه نیول به صحیح شی.

# په دې څيزونو سره روژه نه ماتيږي

## (۱) په هيره سره خوراک څکاک کول:

په هيره سره په خوراک څکاک سره ياکوروالی کولو سره روژه نه ماتيږي،خواه هغه فرض او واجب روژه وی يا نفل،خو که چاته ياد کړې شو چه ستا روژه ده،بياهم هغه ته ياد نه شوه او خوراک څکاک ئې کولونو روژه ماته شوه او په دې صورت کښې صرف قضاء ده کفاره نشته ـ

پاتې شوه دا مسئله چه څوک په خوراک څکاک باندې ليدلو سره روژه ورته يادول ضروری دی يانه؟ نوپه دې کښې دا تفصيل دې چه که هغه روژه دار دومره قدرې کمزورې او لاغر دې چه په يادولو سره به خوراک پريږدی خو کمزوری به ئې زياته شی او روژه پوره کول به هم د هغه دپاره سخت وی نه يادول بهتر دی او که طاقتور وی نو يادول واجب دی ـ [ فتح القدير : ۲/ ۲٥٤، ردالمختار:۲/ ٤۹ ]

## (۲) خوشبو او لوګې:

څه قسمه خوشبو خواه هغه څومره تيزه ولې نه وی روژه نه ماتيږي۔ يا داسې ګردوغبار مچ يا څه قسمه لوګې بې اختياره حلق ته لاړ شی نوبياهم روژه نه ماتيږي ګويا چه روژه ياده وی۔ها! که په خپل قصد او اختيار سره لوګې ئې تير کړلو نو روژه به ماته شی ـ مثلاً په خپله ئې د لګيدلی سګريټ،لوبان، اګربتی وغيره ته نزدې راتلو سره دهغې لوګې تير کړو نو روژه به ماته شی ـ

[ ردالمختار:۲/ ۳۹٥ ]

## (۳) رانجه او تیل وغیره:

په روژه کښې رانجه[یاسترګه کښې څه دوائی] اچول او په ګیره بریتوکښې تیل لګول هم بغیردکراهت نه جائز دی ـ اګرچه ددې څیزونو مزه په حلق کښې محسوسه شی یاپه لاړو کښې د رانجو رنګ هم اولیدلې شی،هرکله چه دا څیزونه د ضرورت لاندې استعمال کړې شی او مقصد زینت او ښائسته والې نه وی، ګنی ددې استعمال به مکروه وی ـ دارنګه ښکرلګولو[حجامه] کښې هم کراهت نشته په شرط ددې چه د کمزوری پیدا کیدو یره نه وی ـ

## (۴) مسواک:

مسواک چه څنګه بغیر د روژې په هر اودس کښې سنت دې همداسې په روژه کښې هم سنت دې ـ خواه سحر استعمال کړې شی یا ماښام،خواه تر وی یا اوچ ـ د مسواک په کولو سره که ددې څه ریشه بې اختیاره حلق ته لاړه شی نو په دې سره روژه نه ماتیږی ـ

[ احسن الفتاویٰ : ٤/ ٤٤٥]

## (۵) غرغړې وغیره:

دغه شان د اودس د ضرورت نه بغیر د یخوالی حاصل کولو دپاره غرغړې کول،پوزه کښې پاس اوبه راخکل،غسل کول، لونده جامه دبدن نه تاوهل بغیر دکراهت نه جائز دی هرکله چه مقصد صرف یخوالې وی،د بې صبرئ او پریشانئ ښکاره کولو دپاره دا کار مکروه دی ـ

[مراقی الفلاح مع الطحطاوی:۳۷۲ ]

## (۶) انجکشن:

په انجکشن لګولو سره روژه نه ماتیږی په دې وجه چه د انجکشن

په ذریعې سره دوائی جوفِ عروق ته رسولې شي او وینې سره په شیریانو یا په وریدونو کښې ددې سریان وی،جوفِ دماغ او جوفِ بطن ته دوائی نه رسی او که رسی هم نو د وریدونو یا مسامات په ذریعې رسی او د روژې دفساد دپاره دمفطر جوفِ دماغ یا جوف بطن ته په ذریعه دمنفذ اصلی رسیدل ضروری دی،مطلقًا د یو اندام جوف ته د عروق [د شرایینو او وریدو]په ذریعې سره رسیدل روژې لره ماتونکې نه دی لهذا د انجکش په ذریعې چه کومه دوائی بدن ته رسولې شی هغه روژې لره ماتونکی نه ده ـ[ امداد الفتاویٰ : ۲/ ۱٤۵، امدادالمفتین :٤۸۹]

یا که چرې دڅه څیز په ذریعې سره دوائی نیغه معده ته رسولې شی لکه دسپې په چیچلو باندې چه ورکولې شی ـ نو روژه ماتیږی ـ ځکه چه فقهاؤ په دې زخمونو کښې دوائی اچولو لره د روژې ماتونکې نه ده ګرځولې کومه چه جوف معده یا جوف دماغ ته براه راست اونه رسولې شی ـ[فتاوی عثمانیه: ٤/۱۸۰]

## معدې ته څه څیز رسول بیا راویستل:

نن صبا بعضې میډیکل ټیسټ کښې چه کوم آلات معدې ته رسولې شی اوبیا راوستلې شی داسې آلات که ټول په ټوله معدې ته اورسیږی او هلته څه وخت دپاره موجود وی نو په دې سره روژه ماتیږی که ددې بعضې حصه معدې ته اورسولې شی او باقی حصه بهر پاتې شی یا د داخلیدو نه پس سمدست راوستلې شی په هغې باندې د اوبو یا دوائې وغیره قطرې نه وی نوپه دې سره روژه نه ماتیږی ـ [حواله بالا]

# په کومو وجهو سره روژه ماتول جائز دی

## د بیمارۍ زیاتیدو یا د ځان تللو یره:

ناساپه داسې بیمار شوچه که روژه نه ماتوی نو هلاک به شی یابه بیماری زیاته شی نو روژه ماتول صحیح دی،لکه ناسابه په خیټه کښې داسې درد راوچت شو چه د برداشت نه بهر شو یا مار اوخوړلو نو دوائی څکل او روژه ماتول صحیح دی ۔ همداسې کچرې داسې تنده اولګی چه دهلاکت یره وی نو هم روژه ماتول صحیح دی ۔

**مسئله :** حامله ښځې ته که څه داسې خبره راپیښه شی چه په هغې سره دخپل ځان یا د ماشوم د هلاکت یره ده نو روژه ماتول صحیح دی ۔

**مسئله :** د څه سخت کارکولو په وجه سره ډیرسخت تږې شو او دومره بې تابه شو چه اوس دځان یره ده نو روژه ماتول صحیح دی،خو که پخپله ئې قصدًا دومره کار اوکړو چه په هغې سره دا حالت شو نو په روژه ماتولو سره به ګنهګار وی ۔

## روژه ماته شوه نو څه اوکړی:

کله چه روژه ماته شی نو په هغې کښې قضاخو په هرصورت به واجب وی بیاهم په بعضې صورتونوکښې د قضاء سره کفار به هم لازمه وی ۔ کچرې سړې په قضاهم قادر نه وی نو د هغه دپاره فدیه لازمی ده۔

## د روژې کفاره:

په لاندینی صورتونوکښې دقضاء سره کفاره هم لازم ده :

- قصدًا،بغیرعذره،په خپلې مرضئ سره څوک د رمضان په روژه کښې داسې څیز اوخوری یا اوڅکی په کوم سره چه بدن ته غذائیت یا علاج ملاویږی نو په هغه باندې دقضاسره کفاره هم لازم ده ۔

- په داسې صورت کښې د ښځې سره په کامل صورت کښې په کوروالی کولو سره کفاره لازمیږی۔
- دهغه دپاره ضروری ده چه څه شرعی عذر نه وی،قصدً ا ارادةً وی دسحرراتلو نه مخکښې ئې د روژې نیت کړې وی،روژه د رمضان وی دکفارې واجب کیدو نه پس په دې ورځ څه بیماری نه وی لاحق شوې په کوم سره چه روژه نه نیول جائزوی ۔ په خپلې مرضئ سره وی دچا په اکراه سره نه وی ۔
- کچرې چا دیو رمضان یا دمختلف رمضانونو ګنړې روژې قصدًا ماتې کړې وی، او اوسه پورې ئې یوه کفاره هم نه وی ادا کړې، نو د دې ټولو روژو په بدله کښې هم یوه کفاره ادا کول کافی ده۔
- کچرې یو کس په قصد سره روژه ماته کړی اوپه هغه باندې کفاره لازم وی او هغه اوس صحت مند وی نو په شپیته مسکینانو باندې خوراک خوړلو سره به دده کفاره نه ادا کیږی بلکه دې به شپیته ورځې لګاتار روژې نیسی ۔ په شپیته مسکینانو سره دهغه سړی کفاره ادا کیږی،چه ډیر بوډا وی د روژې نیولو طاقت نه لری او دمرګ نه مخکښې ددې طاقت راتلو امید هم نه وی،یاداسې بیماروی چه نه فی الحال په روژه نیولو باندې قادر وی نه راتلونکې وخت کښې دهغه دصحت امید وی ۔دقمری میاشتې د اول تاریخ نه د شروع کیدو په صورت کښې دوه میاشتې او که د اول تاریخ نه پس ئې شروع کړی نو د دوؤ میاشتو والا حساب ختمیږی بیابه پوره شپیته ورځې روژې نیول وی او ورسره به یوه روژه نیول هم وی ۔

**په کومو صورتونو کښې چه کفاره واجب نه ده :**

- په خطاء سره ئې څه اوخوړلو يائې اوڅکلو۔
- قصدًا څه څيزداسې خوړل په کوم سره چه بدن ته څه غذائيت حاصل نه شي مثلاً لرګې،کانړې،د مالګې کانړې، مالوچ وغيره۔
- که په هېره سره ئې څه څيز اوخوړلو اوبيائې اوګڼړل چه روژه ماته شوه او قصداً خوراک اوخوري نو هم کفاره به لاژم نه وي۔
- دسرياخيتې په زخم کښې ئې دوائی واچوله او نيغ په نيغه معدې يا دماغو ته اورسيده نوصرف قضاده کفاره نشته۔
- د رمضان نه علاوه روژو ماتولو سره کفاره نه واجبيږي،خواه فرض وي واجب صرف قضا واجب ده۔

**د سفر په وجه سره رمضان اکتيس يا اته ويشت ورځې شو**

**سوال :** په مکه مکرمه کښې د پاکستان نه يو دوه ورځې مخکښې مياشت کتلې شي که يوکس په رمضان کښې د مکې مکرمې نه پاکستان ته راغلو او پاکستان کښې د يوکم ديرش په ماښام مياشت په نظر رانغله نوداسړې به څه کوي؟که روژه نيسی نو يوديرش روژې ئې کيږي دغه شان څوک د پاکستان نه مکې مکرمې ته لاړو نو اته ويشت روژې شوې،ددې څه حکم دې؟

**جواب :** که د پاکستان خلقو د هغه سړي د رؤيت هلال متعلق خبر دفقهې د کتابونو د مذکوره شرائطو مطابق قبول کړی نو دپاکستان خلق به ددې قول مطابق اخترکوی او يوه روژه به قضا نيسی او ددې راتلونکی سړی روژې پوره شوې دی او که

ددي سړی خبر قبول نه کړي شو څنګه چه عمومًا کیږی نو داسې به یودیرش روژې نیسی او نورو خلقو سره به اخترکوی مکې مکرمې ته د تلو په صورت کښې به دمکې والو سره اخترکوی او یوه روژه به قضا نیسی۔ والله سبحانه وتعالی اعلم

## روژه ئې اونیوله او بل ملک ته لاړو

**سوال:** یوکس په پاکستان کښې روژه اونیوله،بیا بل ملک ته لاړو نو اوس به دپاکستان د وخت مطابق روژه ماتې کوی یادهغه ملک د وخت مطابق چرته چه هغه تلې دې ؟

**جواب:** چرته چه تلې دې دهغه ملک دوخت مطابق به روژه ماتې کوی۔

## د اولې ورځ سپوږمۍ وړوکې لوې کیدل

**سوال:** ډیر کرته د رؤیت هلال کمیټۍ د اعلان مطابق د اولې ورځ میاشت نسبتًا لوې په نظر راځی چه په هغې سره خلق په شبهه کښې پریوځی او وائی چه شاید د دوؤ ورځو ده ددې په باره کښې دشریعت څه تعلیم دې؟

**جواب:** د سپوږمۍ وړه لوې کیدل په شریعت کښې څه اعتبارنشته بلکه د هلال کمیټۍ دقواعدشرعیو مطابق د اعلان اعتباردې۔ په حدیث کښې راځی ابوالبختری وائی چه مونږ خلق دعمرې په سفرباندې اووتلو،کله چه بطن نخله ته اورسیدو نو مونږه د[رمضان] میاشت اولیدله،بعضې ملګرو اووئیل چه دا د دوؤ شپو ده، بعضو اووئیل دا دریو شپو ده ۔ کله چه مونږ ابن عباس سره ملاؤ شو اوهغه ته مو قصه عرض کړه ۔ هغه تپوس اوکړو په کومه شپه تاسو لیدلې وه؟ مونږ اووئیل په فلانې شپه نو ابن

عباس اوفرمائیل۔" دا هم ددې شپې ده،په کومه چه تاسو لیدلې ده،رسول الله ﷺ فرمائیلي دی چه الله تعالی درمضان وخت میاشت لیدل مقرر فرمائیلې دی"۔ [رواه مسلم،مشکوةالمرقاة: ٤٧٤/٤]

ددې حدیث لاندې ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی چه په بعضې روایاتو کښې راغلې دی چه دقیامت دنښونه داهم ده چه د اولې ورځ میاشت به پیړ او لوې لیدلې شی۔ [ مرقاة: ٤/ ٤٧٤]

په دې وجه سره فقهاء رحمهم الله د اولې ورځې دمیاشتې حجم لوې لیدو سره ددې قسمه شبهاتو تذکره کولو نه منع فرمائیلې ده۔ [ ردالمختار: ٣٥٤/٣] [1]

## دنکسیر وینه دننه تلل مفسد ده۔

**سوال :** دنکسیروینه دحلق نه خیته ته لاړه نوپه دې سره روژه ماتیږی یانه؟

**جواب :** روژه به ماته شی،صرف قضاواجب ده او کفاره نه ۔

## په رمضان کښې د حیض بندونکې دوائی استعمال

**سوال :** کچرې یوه ښځه د قضاء نه د بچ کیدو د پاره دا تدبیر کوی چه دحیض د ایامو د بندولو دپاره دوائی استعمالوی نو دا عمل جائز

---

(١) ډیرکرته داسې وی خو داسې نه ده بلکه همیشه داسې وی چه دهلال کمیټۍ والا میاشت دومره غټه وی چه هرچاته په نظر راځی نو اوس دوه سوالونه پیداکیږی (١) چه میاشت هرچاته په نظرراغله نو دې له کمیټۍ مقررکولو ته ضرورت پاتې نه شو (٢) په میاشت لیدلو کښې دشریعت دطرف نه نظامِ شهادت مقررکولو ته څه ضرورت پاتې نه شو. (٣) دریم سوال دادې چه آیاکمیټۍ ته شرعًا دا اختیارشته چه دپوره صوبه سرحد د سل یا دوؤ سوؤ کسانو شهادت کینسل کړی چه داټول په غلطه دی یا دروغ وائی حالانکه نوره اسلامی دنیاهم زمونږ سره موافقت لری او زمونږ دخبرې تائید ترې نه معلومیږی. : مستفتی جعفرخان

دې يانه؟ په دې سره په روژه څه اثر پريوځی؟

**جواب:** کله پورې چه حيض نه وی راغلې، په روژه باندې څه اثر نه پريوځی،روژه به صحيح وی۔ البته د داسې دوايانو استعمال په دې شرط سره جائز دی چه دځه ناپاکه څيزونو نه نه وی جوړ شوې او دصحت دپاره مضر نه وی ۔

## د اذان د ختميدو پورې خوراک کول

**سوال:** يو سړې ناوخته پاسيدو،کله چه دپشمنی ټائم ۵يا ۱۰منټه پاتې شی نوهغه خوراک شروع کړو او د اذان دختميدو پورې ئې خوراک کولو نو آيا دده روژه اوشوه يا نه،دارنګه د پشمنی صحيح وخت دکوم وخت نه کوم وخته پورې وی؟ وضاحت اوکړئ ۔

**جواب:** اصل طريقه داده چه خپلې ګهړئ په معياری وخت باندې کړې شی او د يو مستنداو ماهر دطرفه جوړ شوې وختونه چه په نقشه کښې ورکړې شوې وی د هغې نه پنځه منټه مخکښې دې پشمنئ بندکړې شی۔ د جماتونو،ټی وی، او ريډيو وغيره په اذانونو دې انحصار اونکړې شی،ځکه چه ډير کرته د وخت نه مخکښې يا روستو هم اذانونه کيږی ۔ لهذا په مسئوله صورت کښې که دنقشې د وخت نه مخکښې پشمنې بندکړې وی نو روژه اوشوه،خو که په يقينی طورباندې معلومه نه شی نو احتياطًا قضاء دې اوکړی ۔ پشمنې صبح صادق ته نزدې د شپې په آخری حصه کښې خوړل مستحب دې [مراقی الفلاح] نو که ډير وختی اوخوړلې شی نو هم څه حرج نشته ۔

## روژه او کوتاهیانې:

د نورو عباداتو په شان د روژې په معامله کښې هم په مسلمانانو کښې ډېر کوتاهۍ موندلې شي چه د هغې اصلاح ضروري ده۔ دلته د روژې د مکروهاتو یا مفسداتو تفصیل پیش کول مدنظر نه دی،بلکه بعضې د داسې کوتاهو نشان دهی مقصود ده کوم طرفته چه د عامو روژه دارو توجه کمه ځی۔

## ( ۱) بغیر د عذر نه روژه نه نیول :

دمعذوره او مجبوره سړی دپاره روژه نه نیول او د نیولو نه پس په بعضې حالاتو کښې ماتول جائز دی،خو شرعًاکوم خلق د معذورو په فهرست کښې راځی؟ ددې فیصله کول دهرسړی کار نه دې۔ بعضې د درغله او سست خلق کله کله روژه نه نیسی او پخپله فیصله کوی چه مونږ نه روژه نه شی نیولې کیدې،حالانکه که اونیسی او اوګوری نو په آسانۍ سره نیولې شی دبې همتۍ اوکم حوصلې نوم ئې مجبوری ایخودلې دې۔ بعضې خلقوته عذر وی خو هغه اختیاری او خودساخته قسم وی،مثلاً په شرعی سفرکښې د روژې نه نیولو رخصت دې خو هغه ته د سفر ضرورت نشته دې،بس همداسې د کوره اووتلو۔ غرض داچه دیو مفتی نه د تپوس کولو نه بغیر فیصله جائز نه ده۔

## (۲ ) دغیر معذور فدیه ورکول:

بعضې خلق بې باکه قسم خلق په دې مغالطه کښې روژه ضائع کوی چه مونږ به فدیه ورکړو۔ حالانکه په ژوند کښې فدیه ادا کول صرف دداسې سړی دپاره جائزده چه د روژې نیولونه بالکل معذوره او د آئنده دپاره هم مایوسه وی،کچرې دمرګ نه مخکښې څه وخت هم د روژې نیولو قوت راغلو نو دا فدیه به معتبر نه وی۔

## ( ۳) بلوغ ته نږدې صحت مند ماشومان د روژې نه منع کول

بعضې دیندارخلق هم په ماشومانو باندې روژه نه نیسی، حالانکه ددې ماشومانو عمر او قوت وصحت داسې وی چه هغوی په آسانئ سره روژه نیولې شی،د بلوغ نه مخکښې اګرچه په ماشومانو باندې روژه واجب نه ده،خو د هغوی په سرپرستو باندې لازم ده چه بلوغت ته نږدې وی او د روژه نیولو تحمل کولې شی نو په هغوی باندې روژه اونیسئ،ماشوم چه کله د عبادت عادی وی نو دبلوغ نه پس داعمالو پابندئ کښې به هغه ته مشکل نه وی ـ

## ( ۴) دمعذور په رخصت باندې عمل نه کول :

بعضې خلق د افراط او غلو ښکارکیدو سره د شریعت د ورکړې شوې رخصت نه هم فائده نه اوچتوی۔مثلاً د مشقت نه ډک سفریا تکلیف ورکونکې بیمارئ کښې هم روژه نه پریږدی۔ بعضې حاملې یا پئ ورکونکې ښځې خپل ځان او بچی ته ضرر رسولوسره هم روژه نیسی او بعضې په وړو ماشومانو هم روژه نیسی حالانکه په هغوی کښې د روژې تحمل نه وی،داټولې خبرې د علماؤ صلحاؤ د صحبت نه د لرې والی اود شریعت په مقصد د نه پوهیدو نتیجه ده ـ

## ( ۵) په پشمنی کښې جلتی یا تاخیر:

پشمنئ بعضې خلق ډیر زر په نیمه شپه کښې خوری ځان فارغَوی، داسې جلتی هم ګویا جائزده خو د پشمنی د اصل حکمت [ چه په روژه کښې کمزوری رانشی او قوت برقرار وی] نه خلاف ده اوبعضې ځایونو کښې عوام دا غلط اعتقاد هم ساتی چه کله یو ځل پشمنې اوخورې او نیت اوکړې یا اوده شی نو اوس څه څیز خوړل څکل جائزنه دی اګرچه شپه باقی وی، د دې غلطې

عقيدې نه توبه کول واجب دی۔ بعضې د دې خلاف پښمنې دومره تاخير سره کوی چه روژه متشبهه شی، د هغوی نظر په نقشو اوګهړو باندې وی حالانکه په دوارو کښې دغلطۍ امکان شته دې ۔ بس احتياط په دې کښې دې چه دنقشو او ګهړو د وخت نه څه ساعت مخکښې سرې فارغ شی او څه حضرات دا سوچ کوی چه خلق پښمنې پريږدی دسحر اذان د وخت نه مخکښې کيږی،په دې کښې هم ډير قباحتونه دی په دې وجه اذان په خپل وخت باندې ضروری دې ۔

## ( ۶) په روژه ماتی کښې جلتی يا تاخير :

په روژه ماتی کښې بعضې خلق د ډير جلتۍ نه کار اخلی چه په هغې سره روژه مشتبه کيږی ۔ په نقشوکښې خواختلاف هم موندلې شی ۔ بياد پښمنی او روژه ماتی په نقشوکښې ورکړې شوې وختونه هم يقينی نه وی بلکه په حسابی اعتبار سره تقريبی وی،بعضې ناپوهه د ريډيو په اذان[خواه دکوم ښار وی] اوريدو سره روژه ماتوی،بيا د ريډيو اذان او سائرن(ګوګو) وغيره عمومًا د نقشو مطابق غږولې شی، حالانکه په هغې باندې مکمل اعتماد کول صحيح نه دی،خصوصًا هرکله چه څو داسې واقعات شوې هم دی چه دګوګو او اذان په وخت باندې نمر په سترګوسره ليدلې شوې دې۔۱۳ رمضان ۱۳۹۷ھ باندې ريډيو پاکستان څلورپنځه منټه مخکښې اذان ورکول شروع کړل،چه مکمل ئې نه کړو چه ددې نه پس په صحيح وخت باندې ئې اذان نشرکړو،لکهونو خلقو په اولنی اذان باندې خپله روژه خرابه کړه،په دې وجه خپله ګهړۍ په معياری وخت باندې کړئ، او روژه ماتې په نقشوکښې ورکړې شوی وخت نه درې منټه پس کوئ،چرته چه دې

دومره ګهنټې صبر اوکړو نو هلته دوه درې منټه انتظار څه مشکل دې؟ اوبعضې وهمی خلق دوخت کیدو باوجود هم په روژه ماتی کښې تاخیر کوی،داسې تاخیر هم د حدیث په رو سره منع دې ـاو څه خلق په خوراک څکاک کښې دومره تاخیر سره مشغولیږی چه دماښام جمعَ ترینه فوت شی یاترې یو دوه رکعته اوشی او جمات د تلو په ځاې بعضې خلق په کور کښې جمعَ کوی چه دځانله مونځ کولو نه خوبهتر دی خو په جمات کښې د جمعې سره دمونځ نعم البدل نه دې۔ ددې مسئله آسان حل دادې چه روژه ماتې دکور په ځاې په جمات کښې دې اوکړې شی،خوپه دې کښې د جمات د آدابو خیال ساتل ډیر ضروری دی ـ دخوراک څه څیز په جمات کښې پریونځی،په دې کښې شورشرابه بلکه بغیرضرورته خبرې هم نه وی او څه داسې کار هم اونکړې شی چه په هغې سره جمات ته راتلونکو خلقو ته تشویش وی۔ که کور جمات سره نزدې وی نو په کور کښې هم دمختصرروژه ماتی نه پس تکبیرسره دمونځ کولو اهتمام دې اوکړې شی ـ

## د روژه ماتی مکروهات :

په دې څیزونو سره روژه نه ماتیږی البته دا څیزونه مکروه دی:

- بغیر دعذر نه څه څیز لره څکل یاداسې چوپل چه دحلق نه لاندې لاړ نه شی ـ
- استنجاء،غرغرې اوپه پوزه کښې اوبه اچولو کښې مبالغه کول۔
- په خُله کښې لاړې جمع کولو سره هغه تیرول ـ
- د روژې په حالت کښې هغه فعل هم مکروه دې چه روژه دار لره کمزورې کولوسره په روژه ماتولوباندې مجبور کړی مثلاً وینه

ورکول،ښکرلګول[حجامه] وغیره۔

- کچرې مسافرته یقین وی چه هغه دنمرپریوتلو نه مخکښې مقیم شی نودهغه دپاره افطار کول مکروه دی۔

**د روژې په حالت کښې غیرمکروه کارونه:**

- د روژې په حالت کښې دضرورت په وخت او بغیر ضرورته په هرصورت غرغرې کول،په پوزه کښې اوبه اچول،غسل کول،لونده کپړه په بدن یا مخ باندې ایخودل بغیردکراهت نه جائز دی۔
- مسواک کول،خواه اوچ وی یا تر،د ورځې په اوله حصه کښې یا آخری حصه کښې۔
- تیل او رانجه لګول بغیر دکراهت نه جائز دی۔
- دمضبوط اور قوی سرې ښکر لګول یا وینه ورکول۔
- د جنابت په حالت کښې دروژې په شروع کولوکښې یا د ورځې په وخت احتلام کیدو کښې حرج نشته۔

# د فدیې مسائل

**په روژه باندې نه قدرت نه آئنده امید:**

څوک چه دومره بوډا شوې وی چه د روژې نیولو طاقت پاتې نه شی یا دومره بیماردې چه اوس ئې د ښه کیدو امید نشته نه د روژې نیولو طاقت دې،نو هغه دې روژه نه نیسی او د هرې روژې په بدله کښې یو مسکین ته دصدقه فطربرابر غله دې ورکړی،یادې سحرماښام په هغه په مړه خیټه اوخوړَوی دې ته فدیه وائی۔ که د غلې په بدله کښې هم دومره دغلې قیمت ورکړی نوبیاهم صحیح ده ۔بیاکه کله طاقت راغلو یا بیماری ښه شوه نو د ټولو روژو به قضاء راوړی کومه

فدیه چه ئې ورکړې ده هغې به ورته جدا ثواب ملاویږی۔

## مړی دفدیې وصیت کړې وی :

د چاپه ذمه څو روژې قضاء وې او دمرګ په وخت ئې وصیت اوکړو چه زما د روژو په بدله کښې فدیه ورکړې نودهغه دمال نه به دهغه ولی فدیه ورکړی او دکفن،دفن او قرض نه علاوه چه څومره مال بچ شو د دریمې حصې نه کچرې ټوله فدیه اداکول ممکن وی نو ورکول به واجب وی که ټوله فدیه د دریمې حصې دمال نه شی اداکیدې نوڅومره قدرې چه اداکیدې شی وردې کړې شی ۔

## د فدیې وصیت ئې نه وو کړې :

کچرې هغه وصیت نه وی کړې خو ولی دخپل مال نه فدیه ورکړه نوبیاهم دالله تعالی نه امید دې چه شاید قبوله شی اوددې روژو به مواخذه نه کوی او بغیر دوصیت نه ېخپله دمړی دمال نه فدیه ورکول جائز نه دی ۔ دغه شان که دفدیې پیسې ددریمې حصې دمال نه زیات شی نو باوجود د وصیت هم زیات ورکول د ټولو وارثانو د رضامندئ نه بغیر جائز نه دی ۔ ها که ټول وارثان په خوشحالئ سره راضی شی نو په دواړو صورتونو کښې فدیه ورکول صحیح دی۔ خو دنابالغه وارثانو د رضا په شرع کښې څه اعتبارنشته دې،بالغ وارثان دې که خپله حصه ددې نه جدا کولو سره ورکړی نو صحیح ده ۔

# د فدیې مقدار

**سوال :** یوسړې دبیمارې په وجه سره روژه نه شی نیولې ددې فدیه څه ده؟

**جواب :** دصحت ملاویدو نه پس روژه قضاء نیول فرض دی،البته که د صحت ملاویدو څه امید نه وی او آخری وخته پورې دطاقت واپس

راتلو نه بالکل مایوسه دې،په وړو او يخو ورځو کښې هم د روژې نيولو طاقت نه وی نو د يوې روژې په بدله کښې نيم صاع غنم يادديې قيمت چامسکين ته دې ورکړی۔

## د نيم صاع مقدار :

نيم صاع د بعضې علماؤ دقول مطابق دپاؤکم دوه کلو وی،هرکله چه دبعضې علماؤ د تحقيق مطابق پاؤ باندې دوه کلو وی۔ احتياط په دې کښې دې چه پاؤ باندې دوه کلو غنم يا دهغې قيمت ادا کړې شی،ځکه چه په دې کښې د فديې ادا کول يقينی دی ۔ په عباداتو کښې په اختياط باندې عمل کول پکار دی ۔

## د مخکښنی کلنو فديه کښې د ادا کولو د وخت قميت معتبر دې :

**سوال :** که دبلوغ نه پس،دعمر اول وخت کښې روژې قضاء شوې وی، اوس د کمزورې په وجه سره معذوری ده،نو آيا په فديه کښې دغنمو قيمت ځلويښت کاله مخکښې به لګولې شی کوم وخت کښې چه روژې قضاء شوې وې يا به موجوده نرخ لګولې شی،که په قسطونو کښې فديه ورکړې شی نو د نيت کولو په ورځ چه کوم نرخ دې هغه به حسابيږی يا په وخت د ادا چه کوم نرخ وی هغه به واجب الادا وی؟

**جواب:** په فديه کښې اصل واجب خو غنم دی،قيمت ددې قائم مقام دې۔ په دې وجه په هر صورت کښې د ادا کولو د وخت د نرخ اعتبار دې۔

## فديه د رمضان نه مخکښې ورکول جائز نه ده :

**سوال:** د رمضان د روژو دفديې رقم که د رمضان راتلو نه مخکښې ورکړې شی نو صحيح ده يا نه .؟

**جواب:** د رمضان نه مخکښې ادا کولو سره به فدیه ادا نه شی،د رمضان شروع کیدو نه پس د راتلونکو ورځو فدیه په یوځاې ورکولې شې ـ

# د تراویحو مسائل

## د تراویح معنٰی:

تراویح د "ترویحه" جمع ده چه د هغې معنی ده راحت ورکول ځکه چه په دې کښې د هر څلور رکعتو نه پس آرام کولې شی په دې وجه دې ته ترویحه یا تراویح وائی ـ

تراویح په اصطلاح کښې د رمضان په شپو کښې په لس سلامونو سره شل رکعته ادا کولو ته وائی ـ

## د تراویح حکم:

تراویح د سړو او ښځو دواړو دپاره سنت مؤکده دی ـ ددې سنت کیدل ځنکه چه دحضرت عمرؓ او نورو صحابه کرامؓ نه په مواظبت سره ثابت دی دغه شان د نبی کریمﷺ د قولی او فعلی سنت نه هم ثابت دی ـ د نبی علیه السلام ارشاد دې:

''اِفْتَرَضَ اللّٰہُ علیکم صَیَامَهٗ وَسُننتُ لکم قَیَامَهٗ ''ـ

دغه شان نبی علیه السلام پخپله دوه درې شپې مسلسل صحابه کرامؓ ته په جمعَ سره تراویح مونځ ورکړې وو په دې یرې سره ئې پریخودل چه چرته زما په امت باندې فرض نه شی ـ

## د تراویح وخت:

د راجح قول مطابق د تراویحو وخت د ماسخوتن د مونځ کولو نه پس شروع کیږی لهذا د ماسخوتن دمونځ نه مخکښې تراویح ادا کول

صحيح نه دی اګرچه د ماسخوتن وخت داخل وی-ها د وترنه مخکښې يا روستو کول څه خبره نه ده -

که امام مونځ کوی او د چا نه څه تراويح پاتې شوې وی نو اول دې هغه د وترو په جمعَ کښې شريک شی او روستو دې هغه باقی پاتې تراويح اوکړی - البته په عام حالاتو کښې وتر په آخر کښې کول بهتر دی -

**په جمعَ سره د تراويحو حکم:**

په جمعې سره تراويح کول عينی سنت دې يعنی دهر سړی دپاره تراويح کول مستقل سنت دې - بعضې حضرات دې ته سنت کفائی وائی -

**د جمات نه بهر د تراويحو جمعَ :**

**سوال:** دتراويحو مونځ جمات کښې پريخودل او په کور يابل ځاې کښې حافظ مقررکولو سره ادا کول جائزدی يانه ؟

**جواب:** فرض مونځ په جمات کښې په جمعَ سره اداکول صرف د تراويحو جمعَ بل ځاې کول جائز دی،په دې شرط چه په جمات کښې هم د تراويحو جمعَ وی،که دمحلې په جمات کښې د تراويح جمعَ نه وی نو ټول به ګناهګار وی ـ

**د مسافر،مريض او ښځې دپاره د تراويحو حکم:**

**سوال:** مسافر،مريض او ښځه که تراويح اوکړی نو څه کراهت خو نشته دې؟

**جواب:** تراويح د سړی او ښځې دواړو دپاره سنت مؤکده دی،په دې وجه زنانوته په خپل کورونو کښې په انفرادی طور باندې دتراويحو کولو اهتمام پکار دې ـ مسافر او مريض ته که په تراويحوکولو کښې څه قسمه تکليف او پريشانی نه وی نو کول ئې افضل دی ـ

## د ښځو د تراويحو په جمعَ کښې شريکېدل يا په خپله د تراويحو جمعَ کول :

**سوال:** په بعضې ځايونو کښې د زنانو دپاره د ځانله ځاې انتظام وی، هغوی د مسجد په جمعَ کښې شريک کيږی ـ دغه شان بعضې جينکۍ حافظانې وی هغوی په کور کښې دتراويحو جمعَ کوی،دکور او ګوانډ زنانه هم په دې کښې شريک کيږی، دحافظانو جينکو ويناده چه ددې نه بغير دقرآن هيريدو يره ده۔آيا د شريعت په رُو سره د ښځو ځانله جمع کول يا د سړو په جمعَ کښې شريک کيدل جائز دی؟

**جواب:** جائزنه دی،کله چه د فرض مونځ دپاره د زنانو د مسجد په جمعَ کښې شريک کيدل جائز نه دی، نو دتراويحو دپاره څنګه جائز کيدې شی؟ دښځې دټولو نه افضل مونځ د حديث په رُو سره هغه دې چه دکور په تياره کمره کښې ادا کړی ـ دغه شان د ښځو په کور کښې ځانله جمعَ کول هم مکروه دی ـ دارنګه د ښځو د تراويحو دپاره دکور نه وتل په ضرورت کښې داخل نه دی بغير د ضرورت نه دکور نه وتل جائز نه دی ـ ددې نه علاوه عمومًا دښځو آواز کور کښې دننه يا بهر پردی او غير محرم سړو ته رسيږی چه په هغې سره په فتنه کښې دمبتلاکيدو يره ده په دې وجه ښځو له ددې نه سختې سره ځان بچ کول لازم دی ـ دارنګه په سرپرستو باندې فرض دی چه هغوی دوی له ددې منکر نه په سختې سره منع کړی،ګنی هغوی به هم ورسره برابر په ګناه کښې شريک وی ـ د شريعت قانون ماتول او الله

تعالی ناراضه کولو سره دقرآن ختمول کومه دخوبۍ خبره ده؟ په قرآن لوستلو او یادولو سره خو مقصدداديٍ چه دالله تعالی په قوانینو باندي عمل اوکړې شی،که دعمل کولو دپاره آماده نه وی نو معلومه شوه چه لوستلو او حافظه جوړیدو سره دالله تعالی راضی کول مقصود نه دی مقصد دخلقو نه واه واه اوریدل او نور څه دی ۔ حافظانو جینکوته پکار دی چه پوره کال دتلاوت او منزل اهتمام اوکړی، قرآن به ئې پوخ وی،دقرآن ختمولو بهانه جوړولو سره دالله تعالی نافرمانی دې هیڅ کله اونکړی شی ۔

## په تراویحو کښې قعده هیره شو دریم او څلورم رکعت ئې یوځاې کړل:

**سوال:** په تراویحو کښې ئې په دویم رکعت کښې قعده هیره شوه او سهوًا ئې دریم اوڅلورم رکعت هم اوکړو نوموںځ صحیح شو یانه؟ که صحیح شو نه څلور رکعته یا دوه؟ که دوه اوشو نو اول دوه اوشو که آخری؟

**جواب:** په دې صورت کښې سجده سهوه واجب ده،که سجده سهوه ئې اوکړه نو اولنی دوه رکعته ئې نفل شول او آخری دوه رکعت ئې تراویح شوې لهذا اولنی دوه رکعته اوپه هغې کښې چه کوم قرآن وئیلې شوې وو هغه واپس وئیل ضروری دی ۔ کچرې سجده سهوه ئې اونکړه نو څلور واړه رکعته په دې کښې وئیلې شوې قرآن واپس کول ضروری دی ۔

**په دويم رکعت ئې قعده اوکړه او سلام ئې اونه ګرځولو :**

**سوال:** زيد د تراويحو په دويم رکعت کيناستو سهوًا پاسيدو او څلور رکعته ئې پوره کړل نو دتراويحو به دوه رکعته اوشي يا څلورواړه؟ سجده سهوه به واجب وی يانه؟

**جواب :** که په دويم رکعت کيناستو تشهدئې اولوستلو نو څلور واړه رکعته ئې اوشول،دسجده سهوه ضرورت نشته ـ

**په يوې قعدې سره درې رکعته تراويح :**

**سوال :** امام دتراويحو په دويم رکعت د قعدې کولو نه بغير سهوًا اودريدو،درې رکعته ئې اوکړل سجده سهوه ئې اوکړه نو دوه رکعته صحيح به وی که نه؟

**جواب :** د راجح قول مطابق به صحيح نه وی ـ

**نابالغه سامع په اول صف کښې اودرول :**

**سوال:** د تراويحو په جمعَ کښې په بعضې ځايونو کښې سامع نابالغه ماشوم وی او سامع په اول صف کښې اودرول ضروری وی،آياپه دې صورت کښې نابالغه په اول صف کښې اودرول جائز دی؟

**جواب :** نابالغه بغير دضرورت نه هم دبالغينو په صف کښې اودريدې شی په ذکرشوې ضرورت کښې خو په طريقِ اولَی جائز دی ـ

**د فرض کولو نه بغير دوترو په جمعَ کښې شريک کيدل صحيح نه دی :**

**سوال:** زيد داسې وخت کښې مسجد ته راغې چه د وترو جمعَ ولاړه وه نو زيد اودس اوکړو د وترو په جمعَ کښې شريک شی يا د ماسخوتن مونځ او تراويح اداکړی؟

**جواب:** اول دې فرض اوکړی،ددې نه پس که د وترو جمعَ ملاويدې شی نو شريک دې شی،ددې نه پس دې تراويح اوکړی۔

## په رمضان کښې قضاء مونځ او يوه غلطه عقيده:

**سوال:** بعضې خلق په جمعة الوداع (آخری جمعه) باندې د قضاء مونځ جمعَ کوی او دا عقيده ساتی چه دپوره ژوند دقضاء مونځونو دپاره کافی دې،هغې ته قضاء عمری وائی۔هرکله چه بعضې خلق په رمضان کښې په دې نيت سره فوت شوې مونځونه کوی چه په يو مونځ کولو سره به د اويا قضاء مونځونو ادائيګی اوشی۔ ځکه چه مشهوره ده چه په رمضان کښې ديوفرض ثواب د اوياؤ فرضو برابر ملاويږی ۔ شرعًا دا عقيده او عمل څنګه ده؟

**جواب:** دا دواړه عقيدې غلطې دی،قضاء عمرې لره فقهاؤ بدعت ګرځولې دې ۔ ددې په شريعت څه اصل نشته ۔ دغه په يو قضاشوې مونځ ادا کولو سره د اوياؤ قضاء شوې مونځونو د ادائيګئ هم شرعًا څه ثبوت نشته،څومره مونځونه چه قضاء شوې دی دهغه ټولو قضاء راګرځول فرض دی،خواه په رمضان کښې ئې کوې يا په غيررمضان کښې ۔ د يو فرض ثواب د اوياؤ فرضو برابر ملاويدو په يو حديث کښې ذکر دې،خو هغه حديث ضعيف دې اوپه فضائلو کښې په ضعيف حديث باندې عمل کولو شرط دادې چه هغه سنت اونه ګنړلې شی ۔ کچرې دې حديث لره قابل داستدلال تسليم هم کړې شی نو هغه په رمضان کښې د ادا کيدونکو نيکو اعمالو دپاره دې او قضاء مونځونه خو دفرضو د ادا کولو په شان دی ۔آيا په رمضان

کښې دچا زر روپۍ قرض ادا کولو سره د اوياؤ زرو قائم مقام کيدې شی؟ غرض ددې حديث نه په يوقضا مونځ کولوباندې د اوياؤ مونځونو ادا کولو ثبوت قطعًانه ملاويږی ـ

**اته رکعته يا شل رکعته :**

**سوال:** بعضې خلق اته رکعته تراويح اوکړی او لاړ شی آيا ددې دحديث نه څه ثبوت شته دې؟

**جواب :** د اتو رکعتو هيڅ ثبوت نشته ـ دصحابه کرام رضی اللّٰه عنهم اجمعين،دڅلورو امامانو،اوټولوفقهاءکرامو رحمهم اللّٰه تعالی دڅوارلس سوه کالو نه په شل رکعته تراويحو باندې اجماع او مسلسل عمل راروان دې۔

**د شبينې حکم :**

**سوال:** د مخکښې څوکلونونه دا طريقه رائج شوې ده چه تراويح ورکونکې دولس رکعتو نه پس مصلی پريږدی او باقی اته رکعته امام صاحب ورکوی،څه مقتديان هم دحافظ سره تراويح پريږدی او دوترو دجمعې نه پس حافظ صاحب خپل باقی پاتې اته رکعته تراويح شروع کوی،نو ډير مقتديان هم دهغه سره دنفلوپه نيت سره په مونځ کښې شريک شی،شبينه تقريبًا يونيمه دوه بجو پورې وی،ددې دپاره دلاؤډ اسپيکر خاص انتظام وی،نو بعضې شبينه کوؤنکو حضراتو لره متوجې کړې شوؤ چه د لاؤډ اسپيکر استعمال د څو سړو دپاره سيوا د نمائش نه هيڅ هم نه دې،نوهغوی دا موقف اختيار کړو چه ګانابجانا عام ده ځاې په ځاې ريکارډنګ کيږی نو مونږ ولی نه لاؤډ اسپيکر استعمال نه کړو؟ ددې شرعًا څه حکم دې.؟

**جواب** : په دې قسمه متعارف شبينه کښې څو قباحتونه دی ،مثلاً

(۱) د نفلو جمعَ

(۲) د لاؤډ اسپيکرپه وجه سره دمحلې والو په کار او آرام او عبادت کښې خلل۔

(۳) نوم نمائش

(٤) بعضې خلق په جمعَ کښې ولاړ وی اوباقی ناست وی،چه د قرآن او جمعې د احترام خلاف دی ۔

(٥) د ضرورت نه زيات د رنړا او متهيانووغيره التزام۔

(٦) دداسې خرفاتودپاره چنده کول۔ ددې قسم نورې هم خرابيانې دی چه دهغې په بناء باندې مروجه شبينه جائزنه ده ۔

# تراويح کوم خلقو پسې کول جائز دی

## په تراويحواوختم قرآن باندې اُجرت :

**سوال:** په رمضان کښې په ختم قرآن باندې قاری اوسامع که چرې څه معاوضه مقررنه کړی،هسې دمسجد والا دهغه څه خدمت اوکړی ياجوړه کپړې ورکړی نوداجائز دی يا نه؟

**جواب:** په تراويحواو ختم قرآن باندې قاری اوسامع لره څه ورکول حرام دی او داسې قاری پسې تراويح ناجائز دی ۔ دخدمت په نوم سره نقدې يا کپړې وغيره ورکول هم معاوضه ده اود اجرت مقرر کولو په نسبت زيات قبيح دې،په دې وجه په دې کښې دوه ګناهونه دی،يوپه قرآن اوريدلو باندې د اجرت ګناه،او

دویمه داجرت نه د ناخبرتیاګناه، بعضې خلق وائی چه قاری اوسامع هم دالله د رضا دپاره کار کوی او مونږ هم دالله د رضا دپاره خدمت کوو، معاوضه مقصود نه وی،دداسې حیله بازو خلقو د نیت معلومولو دپاره فقهاؤ دا امتحان مقررکړې دې چه که قاری او سامع ته څه هم ملاؤ نه شی نو آئنده دپاره به هم په دې مسجدکښې د خدمت دپاره آماده کیږی یانه؟ او د مسجد والو امتحان دادې کچرې دا قاری او سامع ددوی مسجد ته نه راځی نوبیا به هم داخلق دهغوی خدمت کوی،یانه؟ اوس د ددې حاضر دور خلق په دې کسوټئ باندې راولې، قاری اوسامع ته که په یو مسجد کښې څه هم ملاؤ نه شی نو یقینًا به دې مسجد طرفته مخ هم نه کړی او دمسجد والو حال دادې چه کوم قاری او سامع ددوی په مسجد کښې کار نه وی کړې هغه خواه څومره هم محتاجه وی،عمومًا دهغه په بدحالئ باندې څوک هم لږ رحم نه کوی،معلومه شوه چه دجانبینو نیت د معاوضې دې او د الله درضا دعوې دروغ دی،لهذا دغه اوریدونکی او اورولو والا ټول سخت ګناهګار او فاسقان دی،او د داسې قاری امامت مکروه تحریمی دې ـ په فرائضوکښې د فاسق د امامت دا حکم دې چه کچرې صالح امام ملاؤ نه شی یادفاسق امام لرې کولو قدرت نه وی نودهغه په اقتداء کښې دې مونځ اوکړې شی،جمعَ نه دی پریخودل،خو دتراویحو حکم دادې چه په هیڅ حال کښې هم د فاسق اقتداء جائزنه ده،که بغیر دعوض نه صالح حافظ ملاؤ نه شی، نو په

ورو سورتونو دې تراويح اوکړې شی،که د محلې په مسجد هم دا زيربحث حافظ تراويح کوی نو فرض دې په مسجدکښې دجمعې اوکړې شی تراويح دې ځانله په کورکښې اوکړی۔بالفرض که د يو قاری مقصود معاوضه نه وی نوبيابه هم دلين دين د عرف په وجه سره ددې توقع وی او په څه نه ملاويدو به افسوس وی۔ دا اشراف نفس چه حرام دې ۔ کچرې يو قاری لره د اشراف نفس نه هم پاک تصور کړې شی نوبياهم د عام مروج فعل حرام سره مشابهت او ددې تائيد کيږی،علاوه ددې نه چه ددينی غيرت خلاف هم ده،په دې وجه ددې نه پوره ځان ساتل واجب دی ۔

حفاظ کرام دڅو ټکو په خاطر دالله د رضا دپاره د قرآن اورولو د اجرعظيم نه ولې ځان محرومو ی؟ په حديث کښې دی :

**اِقْرَؤُاالْقُرْآنَ وَلَاتَأْكُلُوْابِهٖ** ''يعنی قرآن لولې او دې لره دکسب ذريعه مه جوړوئ''۔

دعالم اسلام مايه ناز فقيه خپل شهره آفاق کتاب ردالمختارکښې ليکی :

**وَاِنَّ الْقِرَأَةَلِشَيْءٍمِنَ الدُّنْيَا لَا يَجُزْوَاِنَّ الْاٰخِذَواالْمُعْطِيْ اٰثِمَان**

يعنی د دنيا د څه څيزهم دخاطره د قرآن تلاوت ناجائز دې، اخستونکې او ورکونکې دواړه يقينًا ګناهګار دی۔

## ګيره کټ کونکی پسې تراويح جائز نه دی :

**سوال:** زيد دمسجد امام دې، هغه خپل ګيره کله په مشين سره خشخشی کوی او کله ئې په قينچئ سره کټ کوی،يعنی دهغه ګيره ديو مُټی

نه کمه ده،که څوک دهغه نه تپوس اوکړی چه تاسو ګیره یو مُټې یاددې نه زیات ګیره ولې نه ساتې نو جواب ورکوی چه د ګیرصرف په مخ راتلل ضروری دی یو مُټې یاددې نه زیات ضروری نه دی ـ زید ددې جواب شرعی نوعیت څه دې او داسې امام پسې مونځ جائز دې یا نه؟ بکرحافظ قرآن او خوش الحان دې هغه هم ګیره کټ کوی،دهغه ګیره دزیدپه شان ده،په صورت او سیرت کښې متبع شریعت حافظان په آسانئ سره ملاویدې شی، که د مسجد د انتظامیې څه خلق بکرلره په تراویحو کښې دقرآن اورولو دپاره مقرر کړی نو دې حافظ پسې مونځ کول صحیح دی یانه؟ چه دمسجدد انتظامیه کمیټۍ صدریاممبرکیدو په وجه سره دپابندشریعت حافظ په ځاې دبکرپه شان کس تقرری کوی ـ دداسې خلقو دپاره په شریعت مقدسه کښې څه حکم دې؟ داسې حافظ یاامام چه ګیره کټ کولو سره دیو مُټی نه کم ساتی په تراویحو یاپنځه وخته مونځ کښې امام جوړیدې شی،ددې هم په شریعت مقدسه کښې څه حکم دې؟ د مسجدونو یا د مدارس عربیه انتظامیه کمیټۍ صدر یا متولی یا مهتمم صورت وسیرت کښې حتی الوسع متبع شریعت کیدل ضروری دی یا نه؟

او بیا: وَمَاكَانُوْا اَوْلِيَآءَهٗ اِنْ اَوْلِيَآؤُهٗ اِلَّا الْمُتَّقُوْنَ[انفال:۳٤ ]مفهوم به څه وی؟

**جواب**: ګیره دیو مُټی نه کم کول په اتفاق سره حرام دی بلکه دشریعت د ښکاره بغاوت کیدو په وجه سره د نورو کبائرو نه هم سخته ګناه ده ـ

لهذا زید فاسق دې او هغه پسې مونځ کول مکروه تحریمی دی۔ که دشریعت پابندحافظ ملاؤ نه شی نوهم فاسق لره په تراویحوکښې امام جوړول جائز نه دی۔ که په فرائضو کښې صالح(نیک) امام ملاؤ نه شی نو جمعَ نه دی پریخودل پکار بلکه هغه پسې فرض مونځ کول خو په تراویحو کښې دفاسق اقتداء په هیڅ صورت کښې هم جائز نه ده ۔ دصالح حافظ نه ملاویدو په صورت کښې په وړو سورتونو دې تراویح اوکړې شی ۔ که ګیره کټ کولو والا دمسجد انتظامه کمیټی متعین کړی نوبیاهم دهغه په اقتداء کښې تراویح کول جائز نه دی ۔ داسې خلق چه دمسئلې علم ورته دکیدو نه پس هم دفاسق امام په متعین کولو باندې په ضد وی،پخپله فاسقان دی۔ دمحلې په خلقو باندې فرض دی چه داسې بې دینه ارکانو لره دمسجد انتظامیې نه لرې کړی ۔داخلق ددې منصب اهل نه دی۔که محلې والو ته په دې باندې قدرت نه وی نو په حکومت باندې فرض دی چه دوی لره ددې مقدس منصب نه لرې کړی او دوی ته مناسب سزا ورکړی ۔ دمسجدونو او مدارس عربیو کارکنانو لره ظاهرًا او باطنًا دشریعت پابند کیدل ضروری دی،که یو رکن د شریعت پابند نه وی هغه هم معزول کول واجب دی ۔

# اعتكاف

## د اعتكاف فضيلت :

د روژې په ذريعې سره د انسان نفسيات په اعتدال باندې راتلو سره هغه لره د شريعت تقاضې پوره کولو لائق جوړکړې وو۔ اوس مسلمان چه کله په دې طريقه باندې شل ورځې تيرې کړې او ګويا د روحانی دوائی يو نصاب [کورس] پوره شو،نواوس الله تعالی اوغوښتل چه زما بنده زما نه سيوا ټولو مخلوقاتو سره غيرضروری ميل جول پريږدی زما په در کښې پريوځی او زما نه سيوا ئې دچاسره هم څه قسمه تعلق پاتې نه شی۔ همدا اعتکاف دې۔

کچرې خالص د الله د رضا دپاره اعتکاف اوکړې شی نو ډير اوچت او عظيم الشان عبادت دې۔ رسولﷺ به د اعتکاف ډيراهتمام کولو۔ امام زهری وائی چه ''رسول اللهﷺ به ډيرکارونه کله کول او کله به ئې پريخودل خو چه کله ئې مدينې منورې ته تشريف راوړلو نو د ژوند اخر پورې کله هم ئې [د رمضان په آخری لس ورځو] کښې اعتکاف نه وو پريخودلې ۔ خو دحيرانتياخبره داده چه خلق ددې پوره پابندی نه کوی۔

(۱) عَنۡ عائشۃَ رضی اللّٰه عنها اَن النَّبِیَّ ﷺ کَانَ یَعۡتَکِفُ الۡعَشۡرَ الۡاَوَاخِرَ مِنۡ رَمَضَانَ حَتّٰی تَوَفَّاهُ اللّٰه ثُم اِعۡتَکَفَ اَزۡوَاجُهٗ مِنۡ بَعۡدِهٖ۔[بخاری]

سيده عائشه رضی الله عنها نه روايت دې چه رسول اللهﷺ به د رمضان په آخری عشره کښې اعتکاف فرمائيلو تردې پورې چه الله تعالی هغوی وفات کړل،بيا د دې نه پس دنبی عليه السلام پاکو بيبيانو داعتکاف معمول جاری اوساتو۔

(۲)عَن ابن عَبَاسٍ رضی اللّٰه عنهما اَنَّ رَسُوْلُ اللّٰه ﷺ قَالَ فِي الْمُعْتَكِفُ هُوَ يَعْتَكِفُ الذُّنُوْبَ وَيَجْزِیُ لَهٗ مِنَ الْحَسَنَاتِ كَعَامِلِ الْحَسَنَاتِ كُلِّهَا۔

[ابن ماجہ]

د سیدنا ابن عباس رضی اللّٰه عنهما نه روایت دې چه رسول اللّٰه ﷺ د معتکف په باره کښې ارشاد اوفرمائیلو چه هغه دګناهونو نه بچ وی او هغه ته دهغه ټول نیک کارونو چه داعتکاف په وجه سره ئې نه شی کولې داسې بدله ورکولې شی څنګه چه نیکی کونکی ته ورکولې شی۔

په دې حدیث کښې داعتکاف دوه لوېې فائدې بیان کړې شوې۔

- یو خو داچه معتکف دګناهونو نه محفوظ وی ۔ظاهره خبره چه سړې چرته هم کینی،نو هرقسمه خلقو سره ئې واسطه راځی اوبیاددنیا ټولې قصې،قضیې راپیښیږی چه په هغې کښې دروغ، رښتیا،غیبت،بهتان وغیره ضرور وی،که څان هم بچ کوی نو دخپل ماحول د اثراتو نه سړې ډیر کم محفوظ پاتې کیږی خو په مسجدکښې ناستې سره سړې ددې ټولو لانجو نه بچ وی۔ددې ټولو ګناهونو نه دبچ کیدو دپاره بهترینه ذریعه په مسجدکښې اعتکاف کول دی۔
- دویمه لویه خبره داده چه د ډیرو نیکو ثواب بغیر دکولو نه هم په مفت کښې ملاویږی۔حقیقت دادې چه اللّٰه تعالی د ورکولودپاره بهانې ګوری چه څه بهانه ملاؤ شی چه بندګانو لره اونمانځم، معلومه شوه چه اللّٰه تعالی د ورکولو خو فیصله کړې دې خو په څه بهانه سره ئې ورکول غواړی۔

(۳) په یو بل حدیث کښې راځی: چه د رمضان د [آخری] ورځو د اعتکاف ثواب د دوؤ حجونو او دوؤ عمرو برابر دې-[بیهقی]

د قدر کونکو ضرورت دې،چه په څه کښې ددنیا دومره ګټه خو څه کړې،ددې لسمه حصه هم مونږ ته په نظر راځی نو مونږ وینه اوخوَله یو کولو سره په څه نه څه طریقې سره هغه حاصلوو ـ خو ددین د کارونو زمونږ په زړونو کښې څه قدر نشته دې،په دې وجه د لوې نه لوې فائدې اوریدلو سره هم زمونږ په غوږ نه لګی-

(٤) د یو اوږد حدیث خلاصه ده چه :"کوم سړې د الله دپاره دیوې ورځې اعتکاف کوی،الله تعالی جهنم لره دهغه نه ددې زمکې او آسمان په فاصلې سره درې ګنا لرې کوی- یعنی جهنم سره ګویاچه دده څه واسطه نه پاتې کیږی "-

خو په مونږ کښې څومره خلق به وی چه دهغوی په زړونوکښې دا ټولې فائدې اجروثواب اوریدلو سره د اعتکاف شوق وجذبه پیدا کیږی اوهغه ددې دپاره تیاریږی-دکم نه کم ددې ثواب دحاصلولو یوه ډیره آسان طریقه دا هم ده چه پنځه وختونه چه کله دمونځ دپاره مسجدته داخل شې نو داعتکاف نیت دې اوکړی او ترڅوپورې چه په مسجدکښې وی- او بالکل خاموش هم ناست وی نوبیاهم د اعتکاف ثواب ملاویږ او قرآن یا تسبیحات وغیره هم لولی نو دهغې ثواب به ورته جدا ملاویږی-

## د اعتکاف حکمتونه او فائدې :

1. په اعتکاف کښې انسان ته یکسوئی حاصلیږی او زړه د دنیا دفکرونو نه خالی کیږی- د انسان توجه دالله تعالی لرې کونکی څیزونه خواه هغه د انسان خپل دننه وی یا بهر،کله چه انسان په

تنهايۍ کښې وی نو په مزه مزه ټول ختميږی اوزړه پوره د دنيا دخيالاتو نه فارغ کيدو سره الله تعالی طرفته متوجې کيږی او په دې کښې دعبادتونو انوار وبرکات حاصلولو صلاحيت پيدا کيږی۔

2. دخلقو سره د ملاويدو او د کاروبار په مشغلوکښې چه انسان نه کوم واړه ګناهونه کيږی په اعتکاف کښې د هغې نه محفوظ وی۔

3. الله تعالی فرمائی چه" کوم کس ماته يو لاس رانزدې شی زه هغه ته دوه لاسه ورنزدې کيږم او که زما طرفته راروان شی نو زه په منډه ځم هغه خپلوَم"۔

هرکله چه اعتکاف کوؤنکې خو خپل کور در پريږدی صرف نزدې نه بلکه دالله تعالی په در راشی پريوځی۔ اوس تاسو اندازه اولګوئ چه الله تعالی معتکف ته څومره به نزدی وی او په ده باندې به څومره مهربان وی۔

4. شريف خلق خپل کورته دراتلونکی ميلمه عزت او خاطر تواضع څه قسمه کوی،نو دکريمانو کريم او د داتاګانو داتا به خپل کورته د راتلونکی ميلمه څه عزت او اکرام کوی۔

5. شيطان دانسان زوړ دشمن دې خو کله چه انسان دالله تعالی په کور کښې وی نو ګوياچه په مضبوطه قلعه کښې دې،شيطان اوس دده څه هم نه شی ورانولې۔

6. فرښتې هروخت دالله تعالی په عبادت او يادکښې اوسی،مومن بنده هم په اعتکاف کښې کيناستو سره هروخت دالله تعالی په ياد کښې وی او دفرښتو سره مشابهت پيدا کوی،په دې وجه دا بنده هم دالله تعالی سره نزديکت او قرب حاصلوی۔

7. نبی عليه السلام فرمائی چه ترڅوپورې سړې دمونځ په انتظار

کښې وی هغه ته دمونځ ثواب ملاویږی په اعتکاف کښې دا ثواب هم حاصلیږی۔

8. ترڅوپورې چه سړې په اعتکاف کښې وی هغه ته دعبادت ثواب ملاویږی،خواه خاموش ناست وی یا اوده وی یا خپل څه کار کښې مشغول وی۔

9. د اعتکاف کونکی هرهرمنټ په عبادت کښې وی،نو دشبِ قدر حاصلولو هم ددې نه بهترڅه طریقه نشته دې کله چه هم شبِ قدر راځی دابنده په هرحال کښې په عبادت کښې وی۔

10. اعتکاف کونکی ته د پنځه وخت مونځ او تکبیراولی سره دمونځ اولنې موقعه داعتکاف نه علاوه نورچرته نه ملاویږی۔

## د اعتکاف تعریف او دهغې شرائط

**تعریف:**

دنیت سره په داسې مسجدکښې اقامت او پاتې کیدل په کوم کښې چه پنځه وخته مونځ په جمعِ سره کیږی یادښځې دخپل کور په جمات کښې پاتی کیدلو ته اعتکاف وائی۔

**شرائط:**

د اعتکاف صحیح کیدو دپاره د لاندینی شرائطو موجود کیدل ضروری دی:

1. مسلمان کیدل،دکافراعتکاف نشته۔
2. عاقل کیدل، دمجنون اعتکاف نشته،بالغ کیدل شرط نه دې نابالغه سمجهدار هلک هم اعتکاف دپاره کیناستې شی-
3. دجنابت نه پاک کیدل،او دښځې دپاره دحیض ونفاس نه پاک کیدل، په دې کښې دحیض ونفاس نه پاکوالې د اعتکاف صحیح

کیدو دپاره خو شرط نه دي البته د حلِ اعتکاف دپاره شرط دي، ځکه چه د جنابت سره اعتکاف کښې وخت تیرول جائز نه دی ۔

4. د اعتکاف نیت کول،بغیرد نیت نه په مسجدکښې کیناستو سره اعتکاف نه کیږی۔
5. په کوم ځاې کښې چه اعتکاف ته ناست وی هغه ځاې شرعی مسجد وی او فی الحال په دې کښې پنځه وخته مونځ کیږی ۔
6. په سنت او واجب اعتکاف کښې روژه نیول۔

[ عالمگیریه: ۱۲٤/۱ ، مراقی الفلاح مع الطحطاوی: ۳۸۱]

## د اعتکاف قسمونه :

د اسبابو د احکامو د اختلاف په اعتبارسره د اعتکاف درې قسمونه دی۔ واجب ، مسنون ، مستحب ۔

## ( ۱) واجب،نذر،اعتکاف :

دنذر واجب اعتکاف دکم نه کم مقدار یوه ورځ ده،ددې نه کم نشته ځکه چه ددې سره روژه نیول هم واجب دی ۔

## ( ۱) مسنون :

درمضان په آخری عشره کښې اعتکاف سنت مؤکده علی الکفایه دې ۔

سنت اعتکاف شروع کولو نه پس ماتول دڅه عذر په وجه سره وی یابغیر عذره دهغې قضا واجب ده ۔

## ( ۳) مستحب او نفلی :

دیو ساعت دپاره هم په مسجدکښې قیام اوکړی که ددې دپاره داعتکاف نیت اوکړی نوکچرې ددې دپاره د اعتکاف نیت اوکړی نودا مستحب او نفلی اعتکاف دې ۔ ددې دپاره نه روزه شرط دې او نه شپه تیرول ۔ ددې په ماتولو باندې قضاهم واجب نه ده ۔

## دا کارونه اعتکاف ماتوؤنکی دی :

1. د اودس نه مخکښې بغیر قصده اودس، د اودس په ځای کښې کی ناستل مخ لاس په صابن سره وینځل اعتکاف لره ماتوی۔
2. د اودس نه پس د اودس په ځای کښې ایسارشی په رومال سره د اودس اوبه اوچولو سره هم اعتکاف ماتیږی۔
3. د اودس نه مخکښې د لاس ګهړئ د اودس په ځای کښې د لاس نه ویستل په جیب کښې ایخودل بیا اودس کول یا د اودس په ځای کښې اودس کولو نه پس ختلو په وخت کښې په لاس کښې ګهړئ اچول۔
4. د اودس ماتی په ځای کښې بهر لائن لګیدلې وی نو هلته انتظار کښې اودریدل۔
5. د اودس نه مخکښې د اودس په ځای کښې خپله ټوپئ یا رومال د اودس په ځای کښې په ګُنډه کښې بانډه کول۔
6. دکورنه څوک روټئ راوړلو والا نه وی نو د روټئ راوړلو دپاره کورته تلل۔
7. د روټئ دپاره کورته په تلو معلومه شوه چه روټئ تیارولو کښې به لږ وخت لګی دهغې انتظار کول۔
8. احتلام اوشو او یخې اوبه نقصان کوی نو د اوبه ګرمولو دپاره د مسجدنه وتل یا دګرمو اوبو دپاره کورته تلل او هلته د اوبو ګرمولو دپاره انتظار کول۔د احتلام په حالت کښې د ګرمو اوبوپه انتظارکښې تیمیم کول په مسجدکښې ایساریدل جائز نه دی د مسجد نه سمدست اوځه، د مسجد نه بهر د اوبو ګرمولو په انتظار کښې اودریدل جائز دی۔

9. د اعتکاف په حالت کښې بیمارشو،او دوائی راوړلو او درکولو والا څوک نشته،یا ډاکټرته تلل ضروری وی نو دوائی دپاره د مسجدنه وتلوسره اعتکاف ماتیږی،اوددې روژې قضاء لازم ده ـ البته که دسختې مجبورئ په صورت کښې وتلو سره ګناه به نه وی،اعتکاف به په هرحال کښې فاسد شی، اوقضاء به لازم وی ـ

[احسن الفتاویٰ :٤/ ٥٠٨، بحواله رردالمختارج:٢/ ١٤٥]

## د اعتکاف مکروهات :

1. چپ چاپ ګم صُم کیناستل او هغه ښه اوثواب ګنړل-نن صبا ناواقفه خلق په اعتکاف کښې چپ کیناستل هم د ثواب خبره ګنړی ـ
2. جنګ جهګړې،شورشغرب او بیهوده بکواس خبرې کول-
3. د اخستلو خرڅولو دپاره څه څیز مسجدته دننه راوړل-
4. کومې خبرې چه د اعتکاف نه بهر حرامې یا مکروه دی لکه کنځل، فضولې خبرې،غیبت، عیب راویستل،ریاکاری،د څه بدبودار څیز استعمال داعتکاف په دوران کښې ددې حرمت او کراهت نورهم زیاتیږی ـ
5. داسې اخبار یا رساله کتلو کښې څه باک نشته،چه د ساه لرونکی د تصویرنه پاک وی او ددې مضامین هم صحیح وی،خو عمومًا داخبار هیڅ یوه صفحه هم د تصویرانو او دروغو خبرو نه پاکه نه وی،په دې وجه دا مسجدته راوړل د کراهت نه خالی نه دې ـ بالخصوص کچرې معتکف دینی مقتداء دې نو عوام دهغه د عمل نه غلط استدلال کوی ـ

## د اعتكاف آداب او مستحبات:

د اعتكاف آداب او مستحبات دادی،دې لره په پوره اهتمام سره اوساتې دې دپاره چه حقيقي بركات او ثمرات نصيب شی۔

1. په اعتكاف كښې دنيكې او ښې خبرې كوئ۔
2. د رمضان المبارک د آخرى پوره عشرې اعتكاف كولو كوشش كوئ۔
3. حتی الامكان په جامع مسجدكښې اعتكاف كوئ۔
4. د خپل طاقت مطابق خپل وختونه د زيات نه زيات د اللّٰه په عبادت كښې تيرول،مثلاً نوافل كول،دقرآن كريم تلاوت كول، دعلم دين د صحيح اومستندكتابونو مطالعه كول،د محسنِ انسانيتﷺ د سيرتِ طيبه،د حضرات انبياء عليهم السلام صحيح واقعات،دصحابه كرامورضی اللّٰه عنهم اجمعين،ائمه عظام او اولياء كرامو رحمهم اللّٰه حالات او حكايات او دهغوی دملفوظاتو مطالعه اوكړئ۔ خو چه كومه خبره په پوهه كښې رانشی پخپله دهغې تاويل يا مطلب مه راوباسئ، بلكه دچا معتبرعالم نه ددې په مطلب ځان پوهه كړئ۔
5. مسنون ذكرونه اولولئ۔ څومره تسبيحات چه په آسانئ سره لوستلې شئ دټولو نه بهتر تسبيحات دادی:
سُبْحَانَ اللّٰهِ، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ، اَللّٰهُ اَكْبَرُ، لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ۔اَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ يا
اَسْتَغْفِرُاللّٰهَ رَبِّیْ مِنْ كُلِّ ذَنْبٍ وَّاَتُوْبُ اِلَيْهِ، يَا رَبِّ اغْفِرْلِیْ دريمه كله او كوم ذكر چه هم كوئ نو توجه او دهيان سره اوكړئ۔
6. درود شريف په كثرت سره لولئ،دټولو نه بهتر درود هغه دې چه په مونځ

کښې وئیلې شی۔

7. صلوة التسبیح لوستلو سره لس قسمه ګناه معاف کیږی لهذا ددې د لوستلو هم اهتمام اوکړئ۔

8. اشراق،چاشت،د زوال سنن، اوابین او دتهجددمونځ پوره اهتمام اوکړئ، دتحیة المسجداو تحیة الوضوهم پریږدئ۔

9. د سحرنه اشراق پورې او دمازیګردفرضو نه فارغ کیدو سره دماښام پورې دالله په ذکر او تلاوت وغیره کښې مشغول اوسئ۔

10. دشبِ قدر په طاق شپو کښې دعبادت کولو کوشش اوکړئ۔

11. په اعتکاف کښې پرده لګول او نه لګول دواړه قسمه دنبی علیه السلام نه ثابت دی که پردې لګولوسره د ریاکارئ، کبر وغیره پیدا کیدو خطره وی نو مه لګوئ او که ددې کارونو یره نه وی نو دیکسویئ دپاره پرده لګول بهتردی،البته د فرضو جمع کیږی او پردې لګولو سره په جمع کښې دخلل پریوتلو خطره وی نو پرده لرې کول پکار دی بلکه بستر او سامان هم اوچتول پکار دی۔

12. کومه پورې چه ممکنه وی نور اعتکاف کونکو او مونځ ګزارو ته په خپل قول وفعل او څه قسم طرزعمل سره دتکلیف رسولو نه سخت احتیاط اوکړئ۔[عالمګیری وفتح القدیر]

13. د لایعنی خبرو نه خپل ځان بچ کول،د ژبې نه صرف دخیر کلمه اوباسئ۔

14. دقرآن مجید تلاوت په کثرت سر اوکړئ۔

15. دنبی علیه السلام سیرت طیبه ،دحضرات انبیاء علیهم السلام پاکیزه حالات،دصحابه کرامورضی الله عنهم اجمعین،سلف صالحینوؒ دملفوظاتو مطالعه اوکړئ۔

16. په دې دوران کښې د دینی مسائلو[د اهل علم حضراتو یا مستندکتابونو په مددسره] په زده کولو باندې خصوصی توجه ورکړئ۔ [ عالمگیریه :۲۱۲/۱، ردالمختار: ۲/ ٤٥٠ ]
17. ددې نه علاوه نفل مونځونه[تحیة الوضوء،تحیة المسجد،اشراق، چاشت،اوابین اود تهجدو]حتی الامکان پابندی اوکړئ۔
18. ټول مسنونه ذکرونه په پابندئ سره اولولئ ـ
19. درودشریف،کلمه طیبه او داستغفارکثرت اوکړئ ـ
20. که شبِ قدر په پنځو شپو کښې ممکن وی نو پوره شپه بیدار اوسئ، اوشپولره په مختلف قسمه عباداتو کښې تیرې کړئ،نوافل اود ذکر و تلاوت نه علاوه ددعا کثرت کوئ ۔
21. چرته چه دځان دپاره دعا کوې،هلته دمور پلار،عزیزانو رشته دارنو او دوستانو او ملک وملت بلکه دپوره امت په حق کښې دعا اوکړئ ـ
22. دشبِ قدر په شپو کښې ددې دعا هم اهتمام او توجه سره اوکړئ۔
**اَللّٰهُمَّ اِنَّکَ عَفُوٌّ کَرِیْمٌ تُحِبُّ الْعَفْوَ فَاعْفُ عَنِّیْ۔**
اې الله! بیشک ته معاف کونکې مهربان ئې،معافئ لره خوښوې بس ماهم معاف کړې۔[ ترمذی واحمد وابن ماجه]

**تنبیه:** ددې امور په ځاې راوړل دطاقت په قدر اوکړې شی،دومره زیاته غلو هم دې اونه کړی شی،چه بخپله تنګ یا ستړې شې یا نورو خلقو ته د اعتکاف نه یره کیږی جائز نه دی ـ

## د اعتکاف مباحات :

بعضې خبرې داعتکاف په حالت کښې دمعتکف دپاره جائز او مباح دی۔
1. معتکف ته پکار دی چه په مسجدکښې خوراک څکاک کوی،

هلته څملې اوده کیږی،آرام اوکړی،دمعتکف دپاره دا خبرې په مسجد کښې صحیح دی۔ [ردالمختار]

2. دخپل بچو متعلق داخستلو خرڅولو خبرې کول هم په قدر ضرورت جائز دی-

3. معتکف د خوراک څکاک مختصرخیزونه او د ضرورت سامان هم ځان سره ساتلې شی،خو دومره نه وی چه دکان اولګوی یا مونځ ګزارو ته دځاې نه پاتې کیدو تکلیف وی، او دلوستلو دپاره دینی کتابونه هم ځان سره ساتلې شی- [ردالمختار]

4. دخوراک څکاک یادضرورت څیز که اخستل وی نودا څیز د کتلو دپاره مسجدته راوغوښتلې شې، دې دپاره چه څوک خراب څیز راونړی- [ردالمختار]

5. معتکف له مختصرغوندې بستره،دروټۍ خوړلو اوبه څکلو لاس وغیره وینځلو دپاره لوښې ایخودلو اجازت شته-[ردالمختار]

6. معتکف که سوداګر یا کارخانه دار وی نو خپل قائم مقام یا ماتحت نوکرانو ته ضروری هدایت ورکولې شی اوددې متعلق خبرې ترې هم معلومولې شی،چا خریدار سره ضروری خبرې کول وی نو په قدر دضرورت لین دین،دسودا وغیره خبرې کولو ګنجائش شته-[بدائع]

7. معتکف لباس بدلولې شی،خوشبو استعمالولې شی په سر او ګیره تیل لګول،ګومنز کول ټولې خبرې جائز دی-[بدائع]

8. داعتکاف په حالت کښې معتکف خپل یاد نورو خلقو نکاح کولې شی،که ښځې ته ئې طلاق رجعی ورکړې وی نو په ژبې سره رجوع کولې شی-[بدائع]

9. که معتکف دخپل سر،ګیرې یا بدن څه حصه وینځل غواړی

یاغرغرې کوی نوددې خبرې دې پوره خیال اوساتی چه په مسجدکښې وینښته او مستعمل اوبه بالکل پرینوځی،په تیلو سره دمسجد دیوالونه، صفونه،صحن بالکل خراب نه شی ګنی منع دی-[بدائع]

10. معتکف دآرام په غرض سره یا طبعی طور باندې یا دضرورت دخبرو نه دبچ کیدو دپاره خاموشه وی نو جائز بلکه بهتر دی-

11. په حالتِ اعتکاف کښې ددین خبرې کول دثواب ذریعه ده او داسې خبرې کول په کوم چه ګناه نه وی مباح دی،په قدر دضرورت دنیوی خبرې هم منع نه دی،خو ګپ شپ مشغله نه جوړوی- [حاشیه شر نبلالی]

12. معتکف ته د نوکونو کټ کول،بریت سمول،خط یاحجامت جوړولو رخصت دې،خو په مسجدکښې نوکونه او وینښته وغیره پریونځی- [فتح الباری]

13. دمعتکف دپاره په مسجدکښې خوراک څکاک،څملاستل اور آرام کول جائز دی-[ ہدایہ: ۱/ ۲۲]

14. جامې بدلول او تیل لګول هم جائز دی-[ بدائع الصنائع : ۱/ ۱٦]

خو په تیلو لګولو کښې احتیاط ضروری دې چه دمسجد په چټائی،درئ یا دمسجد بل څیز پرې ګنده نه شی،نه وینښته په مسجدکښې پریوځی،څه څادر وغیره خور کړی،بیاهغه دمسجد نه بهرمناسب ځاې کښې اوځنډی یا په څه تهیلئ وغیره کښې ایخودل روستو مناسب ځاې کښې غورزول-

15. ځاې بدلول،یعنی معتکف دپاره په مسجدکښې دیوځاې نه پاسیدل بل ځاې کیناستل-

16. په نفل اعتکاف کښې دناست کس دپاره دا کارونه بغیر کراهته په مسجدکښې جائزدی-[ ردالمختار:۲/٤٤٨]

# د اعتکاف مسائل

## د مسجد حد:

دمسجدنه مراد خاص هغه زمکه ده چه کومه دمونځ دپاره تياره کړې شوې وی،يعنی دننه کمره،برنډه اور صحن ـ باقی کومه حصه چه ددې نه خارج وی هغه دمسجد په حکم کښې نه دې،خواه د ضروریاتو دمسجد دپاره وقف وی، لکه دامام حجره،مسجدسره لګيدل مدرسه،جنازګاه،د اودس ځاې،غسل خانه،د استنجاء ځاې،داټول ځايونه دمسجد نه خارج دی ـ که معتکف بغير دضرورت نه دې ځايونو ته لاړو نو اعتکاف به مات شی۔

## د مسجدنه د وتلو حد:

د مسجدنه د بهر وتلو حکم به هله لګی کله چه دواړه خپې دمسجد نه بهر وی او ليدونکي دا اوګڼړی چه دې د مسجد نه بهر دې،لهذا صرف سر بهر کولو سره اعتکاف نه ماتيږی۔

## د مسجد په چهت يا پارسنګ باندې ختل:

دمسجد دچهت هم هغه حکم دې کوم چه دمسجد دې،دغسې که څو منزله مسجد وی نو دپاس لاندې ټولو منزلو هم يو حکم دې ـمعتکف ټولو ته تللې شی ـ په دې شرط چه پوړۍ په مسجدکښې دننه وی۔

## د مسجد د حدودو نه لاپروائی:

په دې مسئله کښې ډيرمعتکفين د کوتاهۍ ښکار کيدو سره خپل اعتکاف ماتوی ـپه دې وجه معتکف ته پکار دی چه په اعتکاف کښې د کيناستو نه مخکښې دمسجد دمتولی نه تپوس اوکړی د مسجد پوره حدود ترې معلوم کړی۔

## اعتکاف په هرمحله کښې سنت کفايه دې:

درمضان دآخری عشرې اعتکاف دښار د هرې محلې په حق کښې

سنت کفائی دی- یعنی دهرې محلې په مسجد کښې دیو سړی په اعتکاف کښې کیناستل ګنی پوره محله به د سنت پرېښودونکی وی-[احسن الفتاویٰ:٤/ ٥٠٨]

## اعتکاف په کوم مسجد کښې افضل دی :

داعتکاف دپاره دټولونه افضل ځاې مسجد حرام دې،ددې نه پس مسجدنبوی،بیا مسجداقصیٰ[بیت المقدس] بیا لوې مسجد په کوم کښې چه مونځ ګزار زیات راځی،په دې شرط چه په دې کښې پنځه وختونه جمعَ کیږی ګنی دخپلې محلې مسجد افضل دې-

## مسنون اعتکاف دکوم وخت نه شروع کیږی :

په مسنون اعتکاف کښې دناستې دپاره ضروری ده چه په شلم رمضان دنمر پریوتلو نه مخکښې مخکښې مسجدته داخل شی،او داعتکاف نیت هم دنمریوتو نه مخکښې اوکړی،خواه مسجدته د داخلیدو په وخت اوکړې یاد داخلیدو نه په پس-که د غروب نه پس مسجدته داخل شو،یاپه مسجدکښې دمخکښې نه موجود وو خو نیت ئې دغروب نه پس اوکړو نو دا اعتکاف به مسنون نه وی مستحب به شی،په دې وجه چه پوره آخری عشره اعتکاف ئې اونه شو-

[امداد الفتاویٰ : ٢/ ١٥٤،جواهرالفقه:١/ ٣٨٣]

## په ا عتکاف ماتیدو باندې د قضا څه حکم دې :

**سوال :** که په څه وجه سره اعتکاف مات شو نو ددې قضا واجب ده یا نه ؟

**جواب:** د نفل اعتکاف قضا واجب نه ده په دې وجه چه هغه د مسجدنه په وتلو سره نه ماتیږی بلکه ختمیږی-که نذرمعین یا غیرمعین اعتکاف مات شی نو دټولو ورځو قضا واجب ده،دنوې

سرنه دې هم دومره ورځې اعتکاف پوره کړی ځکه چه په دې کښې تتابع[تسلسل] لازم دې-

په اخیره عشره کښې په مسنون اعتکاف کښې صرف هم دهغې ورځې قضا واجب ده په کوم کښې چه مات شوې وی- د فساد نه پس دا باقی اعتکاف نفل شو- د یوې ورځې قضا خواه په دې رمضان کښې اوکړې یا درمضان نه پس نفل روژې سره اوکړې- د یوې ورځې قضا د شپې ورځ دواړو قضا واجب ده یا صرف د ورځې؟

ددې متعلق څه صریح جزئیه د نظرنه تیره نه شو،دقواعدو نه دامعلومه شوه چه که اعتکاف په ورځ کښې فاسد شو نو صرف د ورځې قضا به واجب وی،دصبح صادق نه شروع کولو سره دنمر پریوتلو پورې اعتکاف اوکړې-

اوکه په شپه کښې اعتکاف مات شو نو دشپې ورځې دواړو قضا واجب ده،دنمرپریوتو نه مخکښې شروع کول د دویم ورځې دنمر پریوتو پورې ختم کړې-که د ورځې دا عتکاف نذر ئې اوکړو نو صرف د ورځ اعتکاف واجب دې او دشپې ورځ دواړو نذر کښې ځلیرویشت ګهنټې اعتکاف واجب دې،او قضا اعتکاف هم په وجوب کښې دنذر په شان دې په دې وجه دهغې هم دغه حکم به وی-[احسن الفتاویٰ:۵۰۲/٤]

## د معتکف دپاره جائزوناجائز کارونه

**قاعده:**

د طبعی او شرعی حاجاتو [دکوم تفصیل چه پاس د مباحاتو لاندې تیرشوې دې] نه سیوا په څه قسمه سبب سره د مسجدنه بهر وتل اعتکاف لره ماتوی،خو دا چه دمسجد د راپریوتلو په وجه د ځان دیره وی یا څوک ظالم وجابر باچا ده لره

جبرًا د مسجد نه راوباسی نو داسې دې چرته نزدې مسجدکښې کېنی نو اعتکاف به فاسد نه وی۔

**په مسجد کښې دمعتکف اخستل خرڅول کول :**

دخپلې ښځې یا بچو دضرورت دپاره په مسجدکښې دڅه څيز اخستل خرڅول جائز دی،خو سودا په مسجد کښې ايخودل جائز نه دی ۔ها! که څه دايسې سپک غوندې څيز وی چه په مسجدکښې ځاې نه نيسی نودهغې د راوړلو ګنجائش شته ۔اوکوم څيز چه خپل يا داهل وعيال ضرورت نه وی يا دتجارت په نيت ددې اخستل خرڅول اوکړې شی نو دا اخستل خرڅول ناجائز دی، ګويا چه صرف زبانی ولې نه وی۔ [ ردالمختار :۲/٤٤٨]

**مباح خبرې کول :**

دضرورت په قدر خبرې کول صحيح دی[ بدائع الصنائع ]بالکل خاموش اوسيدل هم جائز دی کله چه دې لره ثواب او قربت نه ګڼړی [ردالمختار: ۲/ ٤٤٩]او په خبرو اترو کښې دا احتياط ضروری دې چه دبل معتکف يا مونځ ګزار په راحت اوعبادت کښې خلل رانه شی،ګنی دا خبرې اترې به ناجائز وی۔

**د معتکف په مسجدکښې سر وغيره وينځل :**

سردمسجدنه بهر کول يا د ګيرې ويښته وغيره وينځل جائز دی، خواه پخپله ئې وينځی يا بل څوک ئې ورله وينځی۔دغه شان دمستعمل اوبو دپاره څه لوې لوښې کيږدی لاس،مخ يا سر په مسجدکښې وينځل اوغواړی بلکه اودس [چاراندام] هم کول غواړی نو څه باک نشته په دې شرط چه اوبه په مسجدکښې نه پريوځی ۔[ البحر الرائق : ۲/ ۳۰۳ ]

**دمعتکف دپاره نسوار،سګريت استعمال :**

چيلم او سګريټ په مسجدکښې کيناستل او څکل جائز نه دی، او دمعتکف دپاره بهرتلل هم جائز نه دی ۔ که معتکف ددې څيزونو عادی دې نو هغه د

اعتکاف په دې موده کښې دې څیزونو لره پرېښودل پکار دی۔ که چاته سخته تقاضا وی نو هغه چه کله دځه ضرورت دپاره دمسجدنه بهر راوځی نو په لاره کښې دې سګریټ،بیړی،نسوار استعمال کړی،خو ددې نه پس دې سمدست د خُلې نه بدبو لرې کړی۔

## دمعتکف د ضرورت په وخت محرم ښځې سره ملاویدل :

څه کار پیش وی نوښځه یا بله څوک محرم ښځه[مور،خور،لور، وریره وغیره]مسجدته راتلو سره معتکف سره ملاویدې شی،خو ضروری ده چه داسې وخت کښې مسجدکښې عام خلق نه وی او په پرده کښې راشی۔دارنګه که په دې موقع باندې دبل سړی نظر پریوځی نودهغه مخکښې دې سمدست وضاحت اوکړی چه دا زما ښځه ده یامحرم زنانه ده دې دپاره چه هغه ته دبدګمانۍ موقع په لاس ورنه شی۔

## د معتکف په مسجد کښې ځانګل :

دمعتکف دضرورت په وجه په مسجدکښې ځانګل جائز دی ۔

## د معتکف په مسجدکښې دمریض علاج کول :

په مسجدکښې د مریض حال اوریدلو سره یا معائنه کولو سره هغه ته بغیر دځه معاوضې نه دوائی علاج خودل او نسخه لیکلې ورکول جائز دی۔

## دمعتکف په مسجد کښې حجامت جوړول :

خپل حجامت په خپله جوړول جائز دی او په نائی سره جوړولو کښې تفصیل دادې چه که هغه ئې بغیر دځه عوض نه کوی نو په مسجدکښې دننه جائز دی او په عوض سره ئې کوی نو معتکف به مسجدکښې دننه وی خو نائی به د مسجدنه بهر ناستې سره حجامت جوړوی ۔ په مسجدکښې دننه په اجرت سره کارکول جائز نه دی ۔

## د معتكف په مسجد كښې جامې وينځل يا ګنډل :

دمعتكف دپاره په مسجدكښې په وخت دضرورت خپلې جامې وينځل او ګنډل جائز دى،خو دا احتياط ضرورى دې چه اوبه په مسجدكښې نه پريوځى،واضحه دې وى چه دضرورت په بناء باندې دجامو وينځلو دپاره دمسجدنه بهر وتل جائز دى ـ

## په اعتكاف كښې پرده زوړندول :

په اعتكاف كښې پردې زوړندول دنبى عليه السلام نه ثابت دى،معتكف ته ښكار دى چه د دل جمعۍ او يكسوييۍ دپاره پردې زوړندې كړى او په دې خلوت خانه كښې په دعااوعبادت كښې مشغول شى او دمونځونو په وختونو چه ضرورت نو پردې اوچتې كړى-

## معتكف د اذان دپاره وتلې شى :

د اذان وركولو ځاې [مثلاً مُناره،اذان خانه وغيره] كه چرې د مسجد په د حدودو كښې دننه ده نو د معتكف ديته تلل او اذان وركول بغير دكراهت نه جائز دى،بلكه د اذان نه علاوه كه دبل څه مقصد دپاره هم هلته تلل غواړى نو څه باک نشته ـ او كه دا ځاې د مسجد نه بهر دې خو دې ته د تلو دروازه په مسجدكښې دننه ده نو په دې كښې هم د اذان وركولو يا دبل مقصد دپاره تلل جائز دى خو احتياط په دې كښې دې چه د اذان نه سيوا څه بل څه كار دپاره هلته لاړ نه شى ـ او كه دا مناره، حجره اذان وغيره د مسجد د حدودو نه باهر ده نو معتكف صرف په دې كښې د اذان وركولو دپاره تللې شى او په دې دريو واړو صورتونو كښې دا معتكف مؤذن وى[يعنى اذان وركولو ذمه دارى ئې وى]يا غير مؤذن، دواړو هم يو حكم دې-[ ردالمختار: ٢/ ٤٤٥]

## د طبعى حاجاتو دپاره وتل :

د حاجاتِ طبعيه دپاره وتل صحيح دى لكه تشې متيازې،غټ اودس ماتې

او د جنابت غسل هرکله چه د مسجد په حدودو کښې په دې طور باندې غسل کول ممکن نه وی چه مستعمل اوبو څاڅکی په مسجدکښې پریونځی۔
[ردالمختار :۲/ ٤٤٥]

## د بلغم توکولو یا پوزه صفاکولو دپاره د مسجدنه وتل :

د بلغم توکولو یا پوزه پاکولو دپاره د مسجدنه وتل جائزنه دی،په وخت د ضرورت ددې مقصد دپاره معتکف تهوک دان (د لاړو توکولو لوښې) په مسجدکښې ساتلې شی یاپه مسجدکښې په ولاړه بلغم او د پوزې ګند دې بهر اوغورزوی۔

## د اودس دپاره د مسجد نه بهر وتل :

که په مسجد کښې دکیناستو سره د اودس کولو داسې ځاې وی چه اوبه د مسجد نه بهر پریوځی نو دمسجدنه بهر وتل جائز نه دی،ګنی جائز دی۔ اودس خوا دفرض مونځ دپاره وی یا دنفل مونځ یا تلاوت دپاره ،دټول هم دا حکم دې ۔

## د معتکف د روټۍ راوړلو دپاره د مسجد نه وتل :

د کور نه څوک روټۍ راوړلو والا نه وی نو دداسې مجبورۍ په وجه معتکف پخپله روټۍ راوړلې شی،خو د وخت نه مخکښې وتل جائز نه دی ۔ په دې وجه د نمر پریوتلو نه پس جائز دی او داهم ضروری ده چه روټۍ راوخلې نو سمدست واپس راځې او په مسجدکښې روټۍ اوخورې.
[ احسن الفتاویٰ :٥١٧/٤]

## د حاجات شرعیه په وجه سره د مسجد نه وتل :

د حاجات شرعیه دپاره وتل هم جائز دی، مثلاً څوک په داسې مسجدکښې د اعتکاف دپاره ناست دې چه چرته جمعه نه کیږی،نو دجُمعې د مونځ دپاره وتل جائز دی او اندازه کولو سره د دویم اذان نه دومره ساعت مخکښې اووځې چه جامع مسجدته رسیدو سره دوه رکعته تحیة الوضوء او

څلور رکعته سنت په اطمينان سره کولو سره اذان خطبه واريدلې شي ـ که په انداز کولو کښې غلطي اوشي او ددې نه مخکښې اورسې نو هم څه پاک نشته ـ بيا دجُمعې د فرضو په سلام اړولو سره په اطمينان سره شپږ رکعته سنت اوکړه واپس خپل مسجدته راشه ـ که ددې زيات وخت په جامع مسجدکښې پاتې شوې يا دجُمعې دمونځ پس راونه وتلې او د اعتکاف باقي ورځې په جامع مسجدکښې په کيناستو سره پوره ئې کړې نوبياهم جائز دی،خو داسې کول مکروه دی ـ داحکم دښار دې ـ

## د کلي په مسجدکښې اعتکاف کونکو دپاره د جُمعې دمونځ دپاره وتل :

معتکف که د کلي په مسجدکښې ناست دې نو دجُمعې دمونځ دپاره ښارته راتلل جائز نه دی،ګنې اعتکاف به فاسد شي ـ [ فتاویٰ محموديه :۳/ ۱۷۵ ]

## د معتکف دمونځ او د بيمار د پُوښتنې دپاره وتل :

د نذر د اعتکاف د نذرمنلو په وخت دجنازې مونځ،د بيماردپوښتنې او د علم په مجلس کښې حاضرئ دپاره وتل داسې استثناء صحيح ده او وتل جائز دی، په دې شرط چه دنذر په شان استثناء هم په ژبه سره کړې وی،صرف د زړه نيت کافي نه دې ـ خو په مسنون اعتکاف کښې دا نيت اوکړی نو هغه به نفل شي سنت به نه اداکيږی ـ مسنون اعتکاف صرف هغه دې په کوم کښې استثناء نه وی کړې،په دې کښې وتل مفسد دی ـ البته د قضاء حاجت په شان ضرورت دپاره اووتلو او وې کتل چه په لاره کښې دجنازې مونځ شروع کيدو والا دې نوپه دې کښې شريک کيدې شي ـ د مونځ نه مخکښې انتظار او دمونځ نه پس پاتې کيدل جائز نه دی ـ دغه شان دقضاء حاجت دپاره په خپله لاره باندې په تلو تلو کښې عيادت(پوښتنه کولې شي،دعيادت او دجنازې د مونځ دپاره د لارې نه يوطرفته تاويدل او پاتې کيدل جائز نه دی ـ

## د بیت الخلاء د خالی کیدو دپاره انتظار کول :

معتکف که چرې دقضاء حاجت دپاره اووځی خو بیت الخلاء خالی نه وه نو هغې دپاره انتظار کول صحیح دی،په دې سره اعتکاف نه ماتیږی۔

## معتکف که قضائې حاجت دپاره اووتلو نوغسل نه شی کولې :

معتکف دقضاء حاجت دپاره اووتلو نو غسل نه شی کولې،په دې سره به اعتکاف مات شی۔ البته که غسل خانه په بیت الخلاء کښې دننه وی او په لامبلو کښې د اودس نه زیات وخت نه لګی نو د قضاء حاجت نه پس د غسل اجازت شته ۔ ددې صورت دا کیدې شی چه په مسجدکښې جامې اوباسی صرف په لنګ کښې لا ړشی او نلکا کهلاؤ کړی په بدن باندې اوبه راپریخودلو سره اوبهیوی نه صابن اومږی اونه زیات بدن اومږی،دغه شان صفائی خو به اونه شی خو یخوالې به حاصل شی او که مسجدطرفته په تلو تلو کښې په تولیه سره بدن صفا کړی نو کافی حده پورې به صفائی هم اوشی ۔

## د اعتکاف په ځاې کښې په اجرت باندې تعلیم ورکول :

د معتکف دپاره اجرت اخستل تعلیم ورکول مکروه دی،خواه دینی وی یا دنیوی یا په اجرت باندې څه بل کار کول،البته کوم سړې چه دمسجد څوکیدار او محافظ وی دهغه دپاره په اجرت باندې د تعلیم ګنجائش شته۔

## د معتکف خاموش اوسیدل :

دغه شان بالکل خاموشی اختیارول هم مکروه دی هرکله چه دې لره فی نفسه عبادت ګنړی ۔اوکه دژبې دګناهونو نه دبچ کیدو دپاره خاموش پاتې شی نو دا د اعلی درجې عبادت دې۔

## د ښځې د اعتکاف دپاره دخاوند اجازت ضروری دې :

ښځې ته په اعتکاف کښې د کیناستو دپاره د خاوند نه اجازت حاصلول ضروری دې او خاوند هغې لره د اعتکاف نه منع کولې هم شی،خو که یو ځل

ئې اجازت ورکړو نو بیانه شی منع کولې۔

**د اجازت نه پس خاوند دښځې سره کوروالې نه شی کولې :**

خاوند چه کله اجازت ورکړو نو ددې دپاره ښځې سره کوروالې کول،ورغاړه وتل ښکلول یا په دې اراده سره د اعتکاف ځاې ته ورتلل جائز نه دی ۔ بیاهم که دهغې سره ئې کوروالې اوکړو نو دښځې اعتکاف مات شو۔ د کوروالی نه علاوه نورو خبرو سره اعتکاف نه ماتیږی۔

**د نابالغه ماشومانو په اعتکاف کښې کیناستل :**

**سوال:** نن صبا په مسجدونوکښې نابالغه هلکان هم په اعتکاف کښې کینولې شی چه ډیر د پریشانئ ذریعه جوړیږی۔ تاسو دا اووائې چه آیا ماشومان او نابالغه هلکان په اعتکاف کښې کینولې شی ؟

**جواب :** اعتکاف دعاقل بالغ مسلمانانو دپاره مسنون دې،د ماشومانو دپاره نه،د پوهه هلک په اعتکاف کښې کینول اګرچه فی نفسه جائز دې خو په دې زمانه کښې ماشومانو لره په اعتکاف کښې کینولو کښې ډیر مفاسد او خرابیانې دی، چه دهغې په وجه سره ماشومانو لره په اعتکاف کښې کینول جائز نه دی۔

**د خوراک نه پس لاس وینځلو دپاره وتل :**

معتکف ته دخوراک نه پس د لاس وینځلو دپاره وتل جائز نه دی،په مسجدکښې په څه لوښی دې اووینځی،منجن یا مسواک وغیره د اودس سره کولې شی،صرف د منجن وغیره دپاره وتل جائز نه دی،په دې صورتونوکښې هم اعتکاف ماتیږی۔ د اودس نه مخکښې یا بغیر دقصدنه د اودس په ځاې کښې کیناستوسره په صابن سره لاس وینځل هم جائز نه دی، دغه د اوس نه پس د اودس په ځاې کښې په اودریدو سره په رومال سره ځان اوچول هم جائز نه دی ۔ په دې صورتونو کښې به هم اعتکاف مات شی ۔ دکوم شرعی یا طبعی ضرورت دپاره وتلې وو، دهغې نه فارغیدو

سره سمدست دې مسجدته واپس راځی ګنی اعتکاف به ئې مات شی ـ

**په ورځ کښې خوراک څکاک کول :**

د ورځې ئې قصدًا خوراک څکاک اوکړوو نو د روژې سره اعتکاف هم مات شو او په هیره سره خوراک یا څکاک سره د روژې په شان اعتکاف هم نه ماتیږی۔

**مجنون یا بې هوشه کیدل :**

بې هوشی یا لیونتوب که مسلسل دومره وخت وی چه په هغې کښې یوه روژه قضا شی نو اعتکاف به مات شی،ددې نه په کم مقدرا کښې وی نو نه ماتیږی ـ

**احتلام کیدل :**

په احتلام کیدو سره اعتکاف نه ماتیږی،په احتلام کیدو سره اعتکاف نه ماتیږی، په احتلام کیدو باندې معتکف ته پکار دی چه بیدار کیدو سره اول دې تیمم اوکړی،بیادې سمدست د مسجد نه اوځی، چاته چه د احتلام یره وی دهغې دپاره بهتر دی چه مخکښې نه دځان سره څه لُوټه (دخاورې چم) کیږدی،ګنی دمسجد په زمکه دې تیمم اوکړی ـ که د ضرر یره نه وی یا په اوبو نه ملاویدو کښې څه وخت لګی یا اوبه ګرمیږی نو ددې تیمم سره په مسجد کښې کیناستو سره انتظار دې اوکړی ـ

# لیلة القدر

**د ګناهونو معافی :**

د شب قدر اهمیت دپاره په قرآن کریم کښې بیان شوې مذکوره فضیلت هم کافی وو،خو رسول الله ﷺ خپل امت ته ددې دقدرومنزلت خودلو دپاره ګڼ ارشادات فرمائیلي دی ـ نبی علیه السلام اوفرمائیل : ''چه کوم سړې لیلة القدر کښې دایمان سره او دثواب په نیت [عبادت دپاره] ولاړ وی دهغه

مخکښې ټول ګناهونه معاف کولې شی"۔[بخاری ]

**خبرداري :**

پاسنې حديث او ددې په شان احاديث په کوم کښې چه په څه عمل صالح سره دګناهونو د معافئ ذکر راځی.،په هغې کښې دګناهونو نه مراد واړه ګناهونه وی، ځکه چه قرآن کريم دلويوګناهونو معافی د توبې سره مقيد کړې دی ۔ همدا وجه ده چه د علماؤ اجماع ده چه لويه ګناه دتوبې نه بغير نه معاف کيږی ۔ په دې وجه د ليلة القدر عبادت وی يا بل څه نيک عمل،ددې فضائل اوريدلو سره بې دريغه ګناهونه کول او دمعافئ اميد ساتل جهالت دې ۔په کبيره ګناهونو سره د توبې اهتمام لازم دې،د توبې باوجود ددې لغزش وخطاګانو د ډهانچې نه د وړو ګناهونو کيدل هم کيږی،دشبِ قدر په عبادت سره او په نورو نيکواعمالو سره دهغه د وړو ګناهونو معافی هم ډير لوې انعام دې ۔

**"جهګړا او اختلاف" تعيين د ليلة القدر د اوچتيدو سبب :**

حضرت عبادة بن صامت رضی الله عنه فرمائی چه نبی عليه السلام بهر تشريف راوړلودې دپاره چه مونږ.ته دليلة القدر په باره کښې خبر راکړی خو دوه مسلمانان په خپل مينځ کښې په جهګړا وو نو نبی عليه السلام اوفرمائيل چه زه په دې وجه راغلم چه تاسوته د شبِ قدر خبر درکړم،خو فلانې او فلانې سړې په جهګړا وو،چه دهغې په وجه سره ددې تعيين اوچت شو،څه لرې ده چه دا اوچتيدل دالله په علم کښې بهتر وی،اوس دې شپو لره په نهمه اوومه، اوپنځمه شپه کښې تلاش کړئ۔[بخاری]

د دويم رواياتو پيش نظر دا درې شپې د آخری عشره دی ۔ که آخری عشره د اول نه شمار کړې شی نود ۲۹،۲۵ اود ۲۵شپې جوړيږی، اوکه دآخرنه شمارکړې شی نو که مياشت د ۲۹وی نو ۲۵، ۲۱،۲۳جوړيږی ۔

خپل مينځ کښې اختلاف اوبعض وعناد دومره قدرې بد څيز دې چه ددې په وجه سره دشبِ قدر تعيين هميشه دپاره اوچت کړې شو،اختلاف ونزاع هميشه دپاره د برکاتونه دمحرومۍ سبب وی ـ

رسول اللهﷺ دعام مسلمانانو بې عزتی کولو لره بدترين او خبيث ترين سود ګرځولې دې ـ هغه خلق چه هروخت د نورو خلقو د بې عزته کولو په فکرکښې لګياوی اوپه نورو باندې تهمتو او الزامونه بې دريغه لګوی،لږ دې څه ساعت پورې په تنهايۍ کښې کينی دالله تعالی د محبوبﷺ په دې ارشاداتو دې غور اوکړی چه هغه خپل وقارته څومره قدرې نقصان رسوی، اوپه خپل دې ناپاکه او کمينه حرکتونو سره دالله تعالی په نظر کښې څومره ذليل کيږی؟ امت مسلمه خصوصًا دينی جماعتونو لره په خپل طرزعمل باندې غور کول پکاردی او خپل مينځ ټولو خفګانونو لره ختمولو سره متفق او متحد کيدو سره خپل کار لره منظم کول پکار دی، ګنی **وَلَا تَنَازَعُوْا فَتَفْشَلُوْا وَتَذْهَبَ رِيْحُكُمْ** پيش نظر اختلاف او انتشارپه صورت کښې دکاميابۍ لار لرې کيدې شی،د نزدې کيدو څه امکان نشته ـ

## ليلة القدر او آخری عشره :

اګرچه دليلة القدر دحتمی تعيين علم اوچت کړې شو خو د احتمال په درجه کښې رسول اللهﷺ د آخری عشرې طاق شپولره په عبادت کښې د تيرولو حکم ورکړې دې ـ

د جمهور علماؤ په نزد رمضان خواه د يوکم ديرشو وی يا د ديرشو ورځو اخری عشره د يوويشتمې شپې نه شروع کيږی،په دې حديث سره دپورتنی حديث مطابق د شبِ قدر فضيلت حاصلولو دپاره طاق ۲۹،۲۷،۲۵،۲۳،۲۱شپه به وی۔ رسول الله ﷺ د ليلة القدر د فضيلت دپاره د رمضان آخری عشره کښې د اعتکاف کولو به فرمائيل هغه په اتفاق سره د يوويشتمې شپې نه

شروع کیږی،په دې وجه هم دجمهورو قول زیات راجح دې ـ بهترخوداده چه دآخری عشرې ټولو شپوکښې عبادت کول پکار دی۔ د دری اتیا کالو او څلورمیاشتو نه د زیاتې زمانې دعبادت ثواب حاصلولو دپاره دې لسو شپوکښې عبادت کول څه مشکل څیز نه دې ـ

## د لیلۀ القدر علم د اوچتیدو مصلحتونه :

لیلة القدر څه معینه شپه نه ده،د بعضو قول دې چه په پوره کال کښې یوه شپه ده،دبعضو قول دې چه په پوره رمضان کښې یوه شپه ده،بعضو وئیلې دی چه په اخری عشره کښې،بیاددې هم په طاق شپو کښې ډیر احتمال دې،چه دهغې تائید دپورتنی حدیث نه هم کیږی ـ دلیلة القدرد علم اوچتیدو په باره کښې رسول اللهﷺ فرمائیلې دی چه څه لرې نه ده چه دا ستاسو دپاره بهتره وی، ددې پوره مصلحتونه خوالله تعالی ته معلوم دی،بیاهم علماء کرامو څو مصلحتونه لیکلې دی۔

## ( ۱) د غفلت نه بچ کول :

که معلومه شوې وې چه فلانې شپه لیلة القدر ده نو په دې شپه کښې به خلقو عبادت کولو او په نورو شپو کښې به اوده وو،دعلم نه کیدو په صورت کښې د هرې شپې په باره کښې امکان دې چه همدا لیلة القدروی، په دې وجه هوښیار اوسیدل پکار دی۔

## ( ۲) د سخت عذاب نه بچ کو ل :

که پته لګیدلې وې چه فلانې شپه ده نو ډیر خلقو به په دې کښې هم ګناه نه پریښودله او که نه وه نو کم نه کم ګیره خرئیل او کټ کول به ئې ـ د شرعی پردې نه بغاوت،غیبت کول،ګیتې پټول،وغیره بې شماره ګناهونه کوم چه د نن مسلمان ګناه نه ګنړی،ټول هرڅه کوی،د لیلة القدرپه شان مقدسه شپه به هم دالله تعالی دنافرمانو او بغاوتونو نه نه منع کیدل نوپه دوی به سخت

عذاب وو،په دې وجه دا هم د الله تعالی رحمت دې چه د لیلة القدر علم ئې واپس واخستلو بندګانو لره ئې دسخت عذاب نه بچ کړو۔

## (۳) د خفګان نه بچ کول:

که د یو سړی دا شپه په عذر یا اتفاق سره پاتې کیده نو په خفګان سره به ئې د راتلونکو شپوکښ په یوه شپه هم عبادت نه نصیب کیدو،دتعین نه کیدو په وجه سره دڅو شپو عبادت نصیب کیږی ۔

## (۴) زیات اجر ورکول:

څومره شپې چه د لیلة القدر په طلب کښې خرچ کیږی د هغې مستقل جدا ثواب به ملاویږی۔

## سرسایه:

سرسایه په هر هغه آزاد مسلمان باندې واجب ده چه د حاجات اصلیو نه[مکان،سورلی،ضروری وسله وغیره] نه زیاتی دنصاب مالک وی،په دې کښې عاقل وبالغ کیدل شرط نه دی ۔ [الجواہرة النیرة :۱/ ۱۷۰]

ډیرخلق ګڼړی چه سرسایه په هرهغه سړی باندې فرض ده دچا په ذمه کښې زکوة ادا کول فرض دی حالانکه دا صحیح نه ده،زکوة صرف په سره زرو،سپینو زرو، دتجارت په مال او نقدو باندې فرض کیږی، هر کله چه په صدقه کښې د ضرورت نه زیات څیزونو لره هم شامل کول ضروری دی۔

بس که د چا په ملکیت کښې د زکوة مالونه بالکل نه وی، خو د ضرورت نه زیاتی څیزونه د نصاب[ د دوه پنځوس نیمو تولو سپینو زرو دقیمت] په مقدار کښې وی،یا د زکوة د مالونو د مقدارِ نصاب نه کم مالیت دې،خو د ضرورت نه زیاتی څیزونو رایوځاې کیدو سره دهغې مجموعی مالیت نصاب ته رسی نوپه دې صورتونو کښې سرسایه ادا کول واجب دی۔ [الجوہرة النیرة :۱/ ۱۷۰]

په خلقو کښې یوه خبره مشهوره ده چه دسرسایه ادا کول صرف په هغه سړی

باندې واجب ده چه روژې اونیسي ـ نو ددې هم څه ثبوت نشته ـ سرسایه په هرصاحب نصاب باندې واجب ده ـ خواه هغه روژې نیولې وی یا نه وی نیولې بیادا روژه نه نیول په عذرسره وی یا بغیر عذره،سرسایه په هرصورت کښې په ده باندې واجب ده۔ [ بدائع الصنائع: ۲/ ۷۰]

## سرسایه کله واجب کیږی؟

سرسایه د وړوکی اختر د صبح صادق په وخت کښې واجب کیږی،لهذا که د صبح صادق نه مخکښې کوم ماشوم پیدا شو یاکافر مسلمان شو یا فقیر مالدار شو نوپه هغه باندې سرسایه واجب ده۔ هم دغه شان دصبح صادق نه پس چه کوم سړې مړ شی یا مالدار فقیرشی نو په هغه هم سرسایه واجب ده ـ ددې برعکس چه کوم سړې دصبح صادق نه مخکښې وفات شو یا مالدار فقیرشو نو په هغه باندې سرسایه واجب نه ده،دغه د صبح صادق نه پس چه کوم ماشوم پیدا شو یا کافر مسلمان شونو په هغوی هم واجب نه ده۔ [فتاوی عالمگیریه:۱/۱۹۲]

## سرسایه دې کله ادا کړې شی ؟

مستحب خو دادی چه سرسایه د اختر دمونځ نه مخکښې ادا کړې شی دې دپاره چه غریب او ناداره مسلمان هم دمالدارو سره په اخترکښې شریک شی۔ خوکه چاپه اداکولو کښې تاخیر اوکړو نو سرسایه به دده نه ساقط نه وی،ټول عمر به دده په ذمه واجب وی،کله چه ئې هم ادا کړی دا به ادا وی نه چه قضا۔که د ادا کولو نه بغیر د مرګ وخت راغلو نو وصیت کول واجب دی،چه د ترکې په دریمه حصه کښې به نافذ کیږی ـ د وصیت نه کولو په صورت کښې د ورثاؤ په ذمه څه نشته، ها که بالغه وارثان ئې تبرعًا ادا کړی نو صحیح ده۔ [ ردالمختار: ۲/ ۳۵۸]

سرسایه د واجب کیدو نه پس په اداکولو کښې سستی ئې اوکړه تردې چه مال ضائع شو نو بیا به هم سرسایه په ذمه واجب پاتې کیږی،په خلاف د زکوة او

عشر چه هغه دمال ضائع کيدو په صورت کښې ساقط کيږی۔
[ الجوہرۃ النیرۃ :۱/ ۱۷٤]

## سرسایه دچا دطرف نه واجب ده ؟

سرسایه دخپل طرف نه او د خپل نابالغه اولاد د طرف نه ادا کول واجب دی۔په نابالغه ماشومانو کښې چه څوک صاحب نصاب دې نو سرسایه به دهغه دمال نه ورکولې شی او همدا حکم د مجنون اولاد هم دې۔
[ هدایه مع فتح القدیر: ۲/ ۲۲۰]
د لاندینی رشته دارانو دطرف نه سرسایه و رکول واجب نه دی: ښځه،بالغ اولاد،مورپلار،خور،رور او نور رشته داران ګویا چه دده په عیال کښې وی یعنی دده په پرورش کښې وی ۔ البته خپل بالغ اولاد او دښځې صدقه دهغوی د اجازت نه بغیر هم ادا کړې شی نو ادا به شی،په دې شرط چه بالغ اولاد دهغه په عیال کښې وی،ګنی صدقه به ادا نه شی،اوباقی رشته دارو کښې دچادطرف نه هم بغیر داجازت ادا کولو سره به نه ادا کیږی۔ [ فتاویٰ عالمگیریه : ۱/ ۱۹۲]
دنابالغه فقیرماشومانو پلارنه وی یا تنګ دسته وی نو نیکه دپلار قائم مقام دې،یعنی په ده باندې واجب دی چه دخپل او دخپلو نمسو سرسایه ادا کړی[ردالمختار : ۲/ ۳٦۲]خو دمور په ذمه د بچو سرسایه نشته،خواه هغه مالدار وی[ ردالمختار۲/ ۳٦۱]نابالغ او مجنون که صاحبِ نصاب وی او دده سرپرست دده دمال نه سرسایه ادا نه کړه نو دبالغ کیدو نه پس او لیونتوب لرې کیدو نه پس په دواړو باندې د مخکښنی کالونو سرسایه ادا کول واجب دی ۔ها! که دا دواړه صاحب نصاب نه وو،او ددوی سرپرست هم ددوی دطرف نه ادا نه کړه نو ددوی په ذمه څه هم نشته۔[ بدائع الصنائع: ۲/ ۹۲]

## د سرسایه مقدار څه دې ؟

که په سرسایه کښې غنم،اوربشې کهجورې او اُوسکې د څلور واړه

جنسونو نه کوم جنس ادا کول غواړي نو د وزن په لحاظ سره ضروری ده،یعنی که د غنمو نه ادا کوي نو نیم صاع،او د اوربشو،کهجورو، اُوسکو نه یو صاع ده۔ دغنمو او اوربشو د اوړو یا ستوانو هم به دا حکم وی او د غنمو او اوربشو نه، باقی جنسونه [مکئی،باجره،اوریژې وغیره نه که سرسایه ادا کول غواړی نو د وزن اعتبار نشته بلکه قیمت لحاظ ضروری دې یعنی ددې قمیت د نیم صاع غنمو یا د یو صاع اوربشویاکهجورو یا اُوسکو د قیمت برابر وی،وزن خواه د دې نه زیات وی یا کم وی۔

لهذا چاکم قیمت د کهجورو د یو صاع په ځاې دهغې دقیمت مساوی نیم صاع ښه کهجورې ادا کړې نو جائزنه دی۔ دغه شان که چا دمکئی،باجره یا اوریژو یو صاع ادا کړه خو ددې قیمت دنیم صاع غنمو یا یو صاع کهجور وغیره دقیمت برابر نه وو نو جائز نه دی۔ [ ردالمختار :۲ / ۳٦٤]

## د نیم صاع مقدار څه دې ؟

د بعضې علماؤ د قول مطابق نیم صاع پاؤکم دوه کلو او درې نیم کلو وی۔ او بعضې علماؤ د تحقیق مطابق نیم صاع پاؤ باندې دوه کلو او صاع دڅلور نیم کلو وی۔

دمفتی اعظم مفتی رشید احمد لدهیانویؒ تحقیق همدا دې اوپه دې کښې احتیاط هم دې،ځکه په دې تحقیق باندې عمل کولوکښې دسرسایه ادا کول یقینی دی او په عباداتوکښې په احتیاط باندې عمل کول پکار دی ۔

## جنس یا قیمت :

په سرسایه کښې خواه هم دغه څیزونه اداکړې،خواه د نقدو په صورت کښې د دې قیمت ادا کړې،هرقسمه جائز دی ۔ بلکه د نقدو په صورت کښې ادا کول په دې لحاظ سره بهتر دی چه په دې سره به غریب خپل هر ضرورت پوره کولې شی۔[ فتاویٰ عالمگیریه : ۱ / ۱۹۱]

په بازار کښې د راشن د اوړو قیمت کم او د غنمو زیات وی نو په سرسایه کښې دغنمو قیمت ادا کړئ،د اوړو قیمت د غنمو نه کم وی یاددې په قیمت سره به سرسایه نه اداکیږی ۔ [احسن الفتاویٰ : ٤/ ٣٨٤]

## د سرسایه مصرف کوم یو دې؟

د سرسایه مصرف هرهغه سړې دې چه دزکوة مصرف دې۔

[ ردالمختار: ۲/ ۳٦۹]

یعنی د چاپه ملک کښې چه سره زر،سپین زر، د تجارت مال،نقدې او د ضرورت نه زیات څیزونه نه وی خو دنصاب په قدر [ د دوه پنځوس نیم تولو سپین زرو نه] کم وی۔

## امام ته زکوة او سرسایه ورکول :

امام ته زکوة او سرسایه ورکول په دوه شرطونو سره جائز دی ۔

(1) امام د زکوة مستحق وی۔

(2)خلق دا رقم د امامت یا قرآن اوریدو د اجرت په طور نه بلکه د زکوة او سرسائې په طور ورکوی۔

که امام د زکوة مستحق نه وی،یادا رقم هغه د اجرت په طور باندې ورکولې شی نو د امام دپاره اخستل جائز نه دی،زکوة او سرسایه به هم ادا نه شی۔